# داوو ورونو
# خور او که
# داختر غوا



لیکوال: شکور الرحمن (حمیدي)
دریم چاپ
د یوې مظلومې خور دژوند رښتینې کیسه
د اوو وروڼو خور
که داختر غوا؟
ناول
دلیکوال اثار
چاپ:
زما مینه شهیده شوه. (ناول)
گله گلاب مې گل نه بوسه. شعري ټولگه
د اوو وروڼو خور که داختر غوا؟ (همدا ناول)
ناچاپ:
زما قسمت کې جانان نشته (پیزري)
بد بخته سخه (ناول)
شنلم د گل په یانو (شعري ټولگه)

# د ښاغلي حمیدي ناولیز مزل

دتیرې یوې لسیزې په اوږدو کې زمونږ په هیواد کې د پښتو ادب د
ډاینې لپاره په بیلابیلو
برخو کې دپام وړکار شوی ، خصوصا د شعر په ډګر کې زمونږ
شاعرانو ورونو په لسګونو
کتابونه د چاپ په ګاڼه پوسللي دي. خو له نیکه مرغه ددې ترڅنګ
د نثر په برخه کې د
پښتنو قلموالو ونډه هم دزیاتې ستاینې وړ ده. خوست دګران
افغانستان یو مهم سرحدي
ولایت دی
چې په ټولو برخو کې یې د پرمختګ پړاوونه وهلي دي د طالبانو د
وکمنۍ پرمهال
د استقلال په نوم دادبي ټولنې جوړیدل ،دشاعرانو منظمې غونډې
دخوست په نوم مجله او
دخوستیو شاعرانو ګډې دوې شعري ټولګې ددې سبب شوې، چې
پدې ولایت کې د ادب
نغره وډنګیده او ډیر شمیر ویده ځوان شاعرانه او فرهنګ
استعدادونه راویښ شول.
هغه وخت نثر لیکونکي دګوتو په شمار وو همدا وجه وه چې دنثر

اړتیا ډېره محصوصیده.
خو دخوښۍ خبره ده ، چې تیرلس کال دپرمختګ کالونه وو ، چې
دفرهنګي تحول لسیزې
په نوم به یې یاد کړو په زیات شمیر سره مجلې ،ورځپاڼې چاپ او
ګڼ شمیر غړیزو او
انځوریزو رسنیو په خپرونو پیل وکړ د ادب او فرهنګ په برخه کې
شعري او نثري ټولګې
دګڼو قلموالو له لوري خپرې شوې. چې د پښتني ادب اوفرهنګ له
غنا سره یې ډیره
مرسته وکړه.
په یاده لسېزه کې داسې ځوان استعدادونه راوټوکیدل ،چې دشعر
ترڅنګ یې نثري
ټولګې دلنډو کیسو ،ادبي ټوټو او ناولونو په بڼه چاپ کړي ددغو
ټولګو شمیر
لسګونو ته رسیږي ،چې دمینه والو ادبي ذوقونه یې په لوستلو سره
خړوب کړل. دخوست
په علمي ، فرهنګي او غزلېزه غېږه کې دنورو تاندو او تنکیو زلمیو
قلموالو له ډلې څخه
تاند شاعر ،لیکوال اوژورنالست شکورالرحمن حمیدي دی ، چې
نوموتي پنځوني یې کړي
دي (زما مینه شهیده شوه ) ناول، (ګله ګلاب مې ګل ته یوسه )

شعري ټولګه ،او تازه
ناولیزه بریالۍ هڅه یې د ( اوو وروښو خوراو که داخترغوا ) په نوم
ده ،چې تازه دچاپ په
ګاڼه پوسلل شوې ده. دغه ناول دیوې مظلومې خور دژوند حقیقي
داستان په خپلو پاڼو
کې رانغښتی داسماني رنګه پښتۍ په درلودلو سره په ښکلي کچه
او ښه سکښت سره
یې کتابي بڼه خپله کړیده. په لومړي مخ یې دیوې جینۍ داسې
انځور ښکل شوی ،چې
سره یې په زنګونو ایښی او په خپلو او ښکو کې یې لمبلي، چې
دلوستونکي په ذهن
کې دپښتني کلتوردناوړه کړنو انځور رسموي. دغه ناول په یوسلو
نولسو مخو نو کې
دزرو ټوکو په شمیر خپریږي ،
درنولوستونکو !ښاغلي حمیدي هڅه کړي، چې دموضوع
ربښتینوالي ثابته کړي او
دناول اصول مراعت کړي ما دغه ناول له سره ترپایه په مینه ،مینه او
په پوره لیوالتیا سره
ولوست، خدای شته که له یوې خوا یې زما ناولیزه تنده راخړوبه کړه
خو له بله پلوه یې
ډیرو دردولم ځکه دیوې پښتني پیغلې د ژوند دلوړو ژورو داستان

پکې نغښتې و دناول
کریکټره په خپله یوه پښتنه پیغله بریښنا ده ،چې د سترګي او نا
کراره ژوند په بهیر کې
له سختو ستونزو او کړاوونو سره مخ شویده ، دپښتني چاپیریال
دنفرتونو ، کینه وو او
جهالتونو ښکار شوې ده دځوانۍ خوږې شیبې یې د سختو
ګواښونو سره مخ شوي د
ژوند په اوږدو کې له ډیرو ازغنو لارو څخه ترخپل رنګین محله
رسیدلي خو له بد مرغه ،چې
د غم او دردونو څخه یې د ژوند اوږې لانه وې سپکې شوې چې
بیا یې هم دخوښۍ او
ګډژوند دباغ ګلونه سپیره خزان ترو ړلي دي او دژوند ټولې ترخې
او خوږې شیبې یې
دملنګۍ سره همغاړي کړي درنولو ستونکو !د ناول ژبه ساده او
روانه ده ځای پرځای پکې
شاعرانه هنري کلمات او شعري توکي کارول شوي ،چې ناول ته یې
خوند وربښلی دی.
ناول دتخنیک له پلوه تر ډیره ښه دی او هغه اصول چې په معیاری
ناول کې مراعت شي
ښاغلي حمیدي تر ډیره بریده هڅه کړې ،چې ورته پا م وکړي دناول
موضوع ریښتوني ده

خود پېښنو او ځپرکو د تسلسل لپاره او د ناول د لا خوندور کیفیت په
خاطر حمیدي صیب په
زیاته پیمان د خیال هنري خوا ړه ورګډه کړي چې ناول ته یې بیل رنګ
ورکړی دی .د ناول په
اوږدو کې ځای ، ځای غمجنې او د خوښۍ ډکې صحنې راغلي ،چې
د هر لوستونکي لیوالتیا
او تلوسه راپاروی شي ترڅو یوه په بله پسې یې ولولي پدې ناول
کې د پیغلې برښنا په
ځیر کټ مټ د نورو ګڼو پښتنو پیغلو ارمانونو او هیلې سره یو ځیل
دي په ځانګړي توګه
د پښتون قوم له پاره یو په زړه پورې پیغام لري او د یو ښه بدلون او
سمون لپاره ترې
ګټه پورته کیدای شي.

د ښاغلی حمیدي د غه ناول ډېرې خوبۍ لري دوې مهمې ښیګړې
چې پکې نغښتي دي
هغه د پښتني ټولنې د ناوړه دودونو ، کرکو او بد بینیو پرضد پراخ
کمپاین کول او
د پښتانو د اذهانو روښانول دي له بله پلوه د پښتني فرهنګ د بډاینې
په برخه کې موثر
تمامیدای شي. پدې هیله چې ښاغلی حمیدي به خپل ناولیز مزل

همداسې د په
لاردوامدار پښتوادب وساتي او په ټولنه کې دشته ناخوالو
اوټولنیزو ستونزو د کمیدو په له منځه
وړو کې به خپل اسلامي او ولسي مسولیت اداکړي. مونږ ا پله ښیله
څو کرښې دګران
حمیدي سره دمینې داظهار په توګه تورې کړي ګڼي دده پرشخصیت
اوهنري کړنو ډیرې
شنني ته اړتیا لیدل کیږي ،ولې متاسفانه ذهنې او فزیکي
بوختیاوو پرې نښودو چې لا
ډیرې څواکمنې ،هنري جملې او کلمات دقلم په څوکه وکاږم ، هیله
ده چې ګران حمیدي
او لوستونکي به مې دکمزورو کرښو په لیکلو سره وبښي په پای کې
ګران حمید ي
صیب ته ددغه ناولیزې پنځونې مرغ ورښه کوم او ټولو پښتنو
لوستونکو ته یې د لوستلو
بلنه ورکوو . ترڅو دپښتني چاپیریال خوا ږې ترخې پکې ولولي.
دګران حمیدي دنورو هنري او حقیقي بریاوو په هیله

ورو مو نورشاه نوراني
خوست ښار دټاکنیز کمپاین دفتر

WWW.KHOST.AF

بسم الله الرحمن الرحیم

## اول څپرکی

دولس مشر حامد کرزي لومړی دوره پای ته رسیدلي وه په هیواد کې دراتلونکې نوي  ولس مشر دټاکنو لپاره انتخابات روان وو، عام خلک ټول په خپل کارو بار مصروف وو ،زه هم دنورو ځوانانو په څیر سهاربه چې له کوره وظیفې ته لاړم مازدیګر ناوخته به کورته راتلم خوهرمازدیګربه چې له وظیفې نه راغلم لومړی به دمورکوټې ته ورتلم ،چې کله به مې مور په کوټه کې نه وه،
پوښتنه به مې وکړه چې مور مې چیرې ده ؟
هرځل به مې ځواب ترلاسه کاوه چې دباندې باغ کې  په څپرکي کې ناسته ده ،زه به چې ورووتم، دمورسره په څنګ کې به مې په یوه بېګانه یاپرادی تورسري سترګې ولګیدې،په عمرکې زما دمورنه مشره ښکاریده،ماښام مې چې مورکورته راغله،پوښتنه مې ترې وکړه، مورې، داښځه څوک ده؟ چې زه دباندې باغ ته راځم له تاسره ناسته وي.مورمې راته وویل زویه دایوه کونډه بې اسرې، بې سر پرسته،ښځه ده چې په کورکې کوم نارینه سړی نه لري،سهارپه خیر ټولولوپسې له کورنه وځي دماښام په خړه یاناوخته کورته ځي.په ژوندکې خدای پرې هیڅ خوشالي نه ده لورولي،له خپل ژوندانه ه نه ډیرې ترخې اوبدې خاطرې لري.ماورته وویل مورې ! که رښتیاپرې دومره تکلیفونه تیرشوي وي زه به یې دژوند کیسه نوروته دعبرت په خاطر ولیکم.

مورمې راته وويل !زويه داخودښه خبره وکړه،سباچې راشي زه به ستاخبره ورسره شريکه کړم.
بل مازديګرچې کورته راغلم له مورنه مې پوښتنه وکړه،مورې زما خبره د ورسره شريکه کړه که نه؟مورمې وويل ! ولې نه زويه کله مې چې ستاخبره ورته وکړه زياته خوشاله شوه،راته يې وويل چې سبادجمعې ورځ ده،زوى به د وظيفې ته نه ځي؟ماورته وويل نه،نوراته يې وويل ! چې سبابه زه وختي راشم،اوټوله کيسه به ورته وکړم، کله چې مې مور ماته داخبره وکړه، ټوله شپه خوب نه راته،کله به په يواړخ اوختم کله په بل، لنډه داچې دسهاراته بجې وې چې مورمې راته وويل ! زويه هغه تورسري راغلي ده،که غواړې چې کيسه يې وليکي اويايې واورې نوراځه،ماوويل ! دادى مورې درغلم، کله چې ورووتم له سترې مشې وروسته تورسري خپله کيسه داسې پيل کړه،
زه به د ۱۳ لسو ،يا ۱۴ لسو کلونو په عمر وم چې زما غوښتنې ته به دې لرې،لرې کليو څخه خلک راتلل،اوزماغوښتنه به يې کوله،خو په هر ځل به مې مور ځواب ورکوه چې لورمې اوس وړه ده،يابه يې ورته ويل چې زه داسې ژرنه غواړم چې لورمې واده کړم،زه هم زياته خوشاله وم چې مورمې زماله رضايته پرته چاته دهو ځواب نه وايي.
يوه ورځ چې زه ښوونځي ته تللې وم،دښوونځي درحصتى څخه وروسته کورته راغلم، نه ګورم چې دکورپه انګړکې درې ځلوربيګانه،ياپردى ښځې ناستې دي،زماچې په دوى سترګې ولګيدې،سيده لاړم دمورکوټې ته،هلته مې دښوونځي ځانګړي کالي بدل کړل،دښوونځي ځانګړي کالي مې لاميخ ته نه وو

زوړندکړي چې مورمې کوټې ته راغله،راته یې وویل ! لورې غوښتنې ته دېیاخلک راغلي دي،څنګه وکړم دډیرې درنې کورانۍ خلک دي، نوره دې ډیرو مرکوهم ستړي کړي یم،بریښنالوري ستاڅنګه خوښه ده څه ډول ځواب ورکړم؟زه لږه غوندې غلي شوم،مورمې په دووهم ځل همغه خبره بیاتکرارکړه،لورې ولې غلي شوې راته وویه که نه څنګه دخوښه ده؟ماورته وویل مورې هغه نوروخلکوته چې څنګه ځواب ورکړی دوی ته هم همغه شان ځواب ورکړه.مورمې نورې خبرې ونه کړې بې له ځنډه دباندې ښځوته ورغله،ورته یې وویل !لورمې اوس واړه ده،زه داسې ژرنه غواړم چې لورمې رانه بیله شي،له راغلوښځوڅخه یې یوې وو یل خیردی تروړې صرف دومره راته ووایه چې ستاسوشوه،نوره چې ستاسو کله خوښه شوه نوموږبه یې بیا(هلته) د واده تیاری ونیسو ،مورمې ورته بیاوویل چې دهواونه ځواب نه شم درکولای،خولورمې اوس وړه ده،راغلي ښځې هم پوه شوې چې زموږټینګاربې ځایه دی نه یې مني، رخصت یې واخیسته اولاړې.

مورمې کوټې ته راغله راته یې وویل ګوره لورې ته اوس پیغله شوې یې یوځای نه یوځای کې خوبه خامخادځان لپاره ځای انتخا بوې، که نن وي که سبا ،ماوویل مورې زه چې ترڅودلوړوزده کړونه فارغه نه وم،ترهغې واده نه کوم،مورمې راته ویل بریښنالورې،ته اوس په لسم ټولګي کې یې، ته به له ۱۲ لسم ټولګي نه فارغیږې،بیابه پوهنتونته ازموینه ورکوې،له هغې وروسته به څلورپنځه کاله پوهنتون وایې،چې داټول اووه اته کاله کیږي،بریښنالورې خدای خبرچې زه به اووه اته کاله عمر نورهم ولرم،لوري زماخو داسې خوښه

ده چې ته باید زما په ژوندانه واده وکړې، پلار غریب دخدای وبښي پلار ده هم نه شته چې بیا سم ځای درته وګورې، د مور دې خبرې ډیرزور راکړ، خو مورمې ښه خبره کوله چې ته باید زما په ژوندانه واده وکړې، ځکه پلار خومې دادرې کاله کیږي چې له دې نړۍ څخه یې سترګې پټې کړي دي، زه د مور یوا ځینی لوروم، نورې خویندې مې نه وې، خو خدای اووه ورونه راکړي وو، پلار مې چې د کومې ورځې را په دې خوا مړشوی دی، له هغې ورځې را وروسته ما او مور ته مې ورونه په ښه سترګه نه ګوري، یوا ځې خپلې ښځې یې په سترګو پټې کړي دي، که ښه خبره ده هم د ښځو ده ، که ښه لباس دی هم د ښځو دی، او که ښه خواړه دي هم د ښځو یې دي، زه په همدې فکرونو کې ډیره ژوره تللې وم چې مورمې بیا راته وویل بریښنا لورې ته باید زما په ژوندانه واده وکړې، لورې که څوک د خوښ وي راته وویه چې هماغه څوک درته وکړم، بریښنالورې ترڅو به راته وایې چې دا ځوان مې نه دی خوښ، دا بې سواده دی، دا داسې دی او دا هغسې دی، لورې چې زما په ژوندانه واده وکړې زه به زیاته خوشاله شم، ما ورته وویل مورې په دې نن شپه خو مې هسې هم نه واده کوې، زه به هم له ځانه سره لږ فکرو کړم، که څوک مې خوښ وي هم درته وو به وایم، او که نه وي مې خوښ هم درته وو به وایم مورې ستا چې کوم ځای خوښ وي هغه ځای زما هم خوښ دی، مورمې زیاته خوشاله شوه په سینه پورې یې جوښته ونیوم په دواړو مخونو یې ښکل کړم، په ژړا شوه راته یې وویل: لورې که پلار دې ژوندی وای داسې ژرما کله ؤده ولې، اووه زامن مې دي خوشي په نومې زامن دي، نه یې تاته کومه توجه

شته،اونه ماته،مادمورپه خاطروويل:موري دومره زړه خوراک څه کوي زموږخدای شته خدای به هرڅه اسانه کړي.

## دووهم څپرکی

سهارچې له کوره راووتم دښوونځي په لور روانه وم چې په لارکې راته یوځل بیاجمشید ولاړدی،زه به چې هرسهاردښوونځي په لوري تلم، جمشیدبه له مانه مخکې راغلی وو ،زمادښوونځي ته دتلوپه لاره کې به ناست وو ،دجمشید دوی کورونه به زموږکورته پوره یوساعت مزل وو ،څنګه به چې زه له کوره راووتم،لومړی سترګې به مې په جمشیدولګیدې،نن سهار چې راسره مخامخ شو نو دنورو ورځوپه شان یې بیاهم راسره دمینې او محبت خبرې پیل کړې،ماتراوسه دواده لپاره کوم څوک نه وو انتخاب کړی،خوبیګاه چې مور راته وویل نوزماپه زړه کې هم جمشیدګډ اوراګډشو ،نن ماهم جمشید ته ډیر په بې جرآتی سره دخپلې مینې اظهار وکړ،جمشید دومره خوشاله شو چې څه به درته ووایم،جمشیدچې زما دخولې نه دمینې کلمه واوریده،راته یې وویل بریښناایا پوهیږې چې ماستادخولې څخه دمینې کلیمې اوریدوته څومره وخت انتظار وکړ؟ ماپه خنداوویل نه زه ، زه به...نوره غلې شوم څه مې ونه ویل،جمشید ترډیره زماسترګوته کتل،چې اوس به خبره پوره کړي خوچې زما دخولې څخه یې کومه خبره وا نه وریده،ویی ویل ولې دخبره نیمګړې پریښوده؟مابیاوخندل ورته وومې ویل جمشیده زه ستا له مینې

ځخه ځه خبره یم چې تا ماته څومره انتظار کړی ،جمشید وویل ډیره بې غوره یې له کومه وخته چې زه ستا سو ټولګي ته راغلی یم، له همغې ورځې مې له تاسره مینه پیدا شوي اوته راته وایې چې زه ځه خبره یم،په خبرو خبرو ټولګي ته ورسیدو،دنورو ورځوبه زه له جمشیدنه مخکې کتار کې کیناستم خونن ورځ زه اوجمشید څنګ په څنګ په یو کتارکې کیناستو،مابه چې جمشیدته وکتل نن ډیرزیات خوشال وو، دښوو نځي درحصتی ځحه وروسته زه او جمشید دواړه یوځای دکورپه لور روان شوو ،جمشیدبه رانه هره ورځ دتلیفون شماره غوښته، خومابه نه ورکوله،نن ورځ یې بیا راته وویل بریښناکه دتلیفون نمبر دراکړې زیات به خوشال شم،ماورته په ټوکو کې وویل جمشیده ما چې درته وویل چې مینه درسره لرم،درته وومې ویل دومره مینه هم درسره نه لرم چې ته اوس رانه دتلیفون نمبر غواړې،دتلیفون نمبر څنګه درکړم،بیاچې دنمبر غوښتنه رانه وکړې ښه به نه وي،زما دې خبرې سره دجمشید رنګ تک زیړ واوخت لکه کرکمان زیات خفه شو، خومابیرته ژرښنه ووغوښته جمشیده ښښنه غواړم،هسې ټوکه مې وکړه خیردی خفه نه شې، جمشید وویل خدای دې وبښه کومه خبره نه ده په یارانه کې بنګړې ماتیږي،لنډه دا چې زه کورته ورسیدم جمشید ته مې دتلیفون نمبر ورکړاوسره رحصت شو ،زه چې کورته دننه شوم مورمې په انګړ کې په کټ کې ویده(اوده ) وه زه مې دخپلې مور کوټې ته لاړم جامې مې بدلې کړې،لامې کتابونه الماری کې ایښودي نه ول چې دمشرورور میرمن کوټې راغله راته یې وویل چې ورور دې ویل چې نوره

دښوونځي ته نه ځي، اوبله خبره دا چې مورهم ستامزدوراني نه یوچې دکور ټول کارونه دمور کوو ،او ته ښوونځي ته بې غمه ځې اوراځې،ماورته وویل:

ګوره وریندارې !ماکوم غلط کار کړی؟چې تاسو راته وایی چې ښوونځي ته به نوره نه ځې،که دکور کارونوسترې کړي وای ماته خپله برخه نه ستاسوکارهم ماته پریدی، زه به یې سرته رسوم،خوداسې راته مه وایی چې نوره به ښونځي ته نه ځې، اوښونځی پریده.

وریندارې زماپیښې وکړې ،ستابرخه کارهم ماته پریدی ، زه به یې سرته رسوم،خوداسې راته مه وایی چې نوره به ښونځي ته نه ځې، اوښونځی پریده.

---

دوریندارې په پیښوباندې زیاته خفه شوم،غوسه راغله ماهم په تونده لهجه ورته وویل:

قسم په خدای چې وژني مې هم که داښوونځی زه پریدم،زماپه ورڼوزورچیرته رسیده، خودوریندارې خبروپه غوسه کړم،ځکه مې ورته داخبره وکړه،زما اود وریندرې په تیزوخبروباندې مې مور له خوبه راویښه شوه،ماته یې راغږکړ:بریښنا لورې راځه له دوی سره خوله مه مرداره وه، د دوی دلاسه خو دادی زه په کټ پرته یم، راځه لورې راځه.له کوټې ووتم ورغلم دمورپه خوا کې کیناستم،مورمې نن ورځ بیاهم ډیره سخته ناروغه وه،دخبروکولوتوان اوطاقت یې نه درلوده،خوبیاهم اوریدلي به مووي چې دمورزړه په زوی او دزوی زړه په وچ کاڼي،مورمې راته ډیر نصیحت وکړچې لورې خپله ګوزاره کوه، ولې عبس له دوی

سره خوله مرداره وي؟يوبه پوهيږي نه بل به پوهيږي نو دا بل بياولې له ځانه کم عقل جوړوي؟په دې کورکي زماوستايواځې دالله نه نور څوک نه شته چې لاس نيوی مو وکړي،صبرکوه صبر بهتردی،مورمې لا داخبره سرته نه وه رسولې چې ورينداري مې راغږکړ:ډيرښه درس دې ورته شروع کړی په هغه خدای مې دقسم وي چې دا ځمکه او اسمان يې پيدا کړي،که نوره دښوونځي مخ هم رانه ووينې،زمامورته يې وويل:

---

ته خوهسې هم دګورپه غاړه يې نن به يې سبا به نه يې،دا دې دروغو تسلي مه ورکوه !مورمې يو سوړ حوصيلی وکړ،اسمان ته يې سترګې پورته کړې څوسوي خيراوي يې وکړې،خوزماله سترګوبې اختياره اوښکې تويدې،يواځينی موخه يې دا وه چې وروڼه او ورينداري مې څومره سخت زړونه لري !ولې يې راباندې زړه نه سوزي؟ولې نه غواړي چې زده کړې سرته ورسوم؟ما اومور مې په ژړا ښه زړونه يخ کړل،چې په همدې زما مشر ورور وصال کورته را دننه شو،مااو مورمې وچې سترګې ورته نيولي وې خو وصال لومړی خپلې کوټې ته لاړ،له څه ځنډوروسته دباندې راغی څيره يې غوسې نيولې وه، سمدیستي وويل:بريښنااوس وخت اوحالات ډير خراب دي، له نن ورځې وروسته به ښوونځي ته نه ځې،ځکه په لسم،يولسم دوولسم،اوله دې نه ورهاخوا په پوهنتون کې هلکان اونجونې درس يوځای وايي، مور ږ پښتانه يو سبابه چاراپسې خبرې کړي وي بيابه مې يادهغوی سرمات کړی وي ياخپل،پوی شوې؟زه اومورمې چوپه خوله ناستې وو ، نه مې دمورپه خوله کومه خبره راتله نه زما،لکه

دختې نه جوړېوتان دواړه خاموش وو ،وصال ورورمې چې څه ويل هغه يې وويل اوبيرته کوټې لاړ،زموږپه ټولګي کې خواوس هم هلکانو اونجونويو ځای درس وايه خوبس ورورمې دښځې خبره وومنله کومه بله پلمه (يابهانه ) نه وه ځکه يې دنجونو اوهلکانوخبره رامنځ ته کړه لږه شيبه وروسته ورينداري راغږکړ:چې ژر ژر کوه دماخوستن له پاره تياری ونيسه، موږخوڅه ستاسې مزدوراني نه يو.
مورمې له اوښکوډکې اوښلنې سترګې رواړولې په سترګوکې بې وسي اوبې کسي يې راته وويل: چې لوري پورته شه مجبوري ده،په ډک زړه پاڅيدم دکوکارونه مې سرته ورسول،دماخوستن د ډوډی خوراک نه وروسته مې موربانديې يوځل بيا سخته تبه راغله، په کوټه کې ډيره ايخوا دې خوا شوم، خودتبې دپرې کولو کومه دواه مې ترسترګونه شوه،دباندې راووتم ورونه او ورينداري مې بې غمه په کوټوکې ويده وو ،دوصال ورور دکوټې دروازه مې ټک، ټک کړه، څوشيبې وروسته مې بې رخمه او ظالم ورور دروازه خلاصه کړه، په غوسه يې راته وويل:
په تاسو دوو باندې خو خدای خوب خرام کړی په موږباندې موهم ارام نه لوريږي،بې شرمې بې حيا،ځه چې بياد دکوټې مخې ته ونه وينم،ورورمې اوس دومره بدل شوی وو چې زما يې هيڅ خبره وانه وريده چې زه دلته دڅه له پاره راغلي وم او دروازه مې دڅه لپاره ټک،ټک کړه؟او ولې مې له خوبه ويستلئ؟په بيړه بيرته دمورکوټې ته لاړم،نه ګورم چې مورمې دساړه له وجې لړزې اخيستې ده،خپله کمبله مې رواخيسته په موربانډې مې واچوله،دمورتبه مې ډيره سخته وه زړه کې مې وويل چې راځه دڅنګ ګاونډې نه ورته دتبې

دپرې کولو ګولی راوړه،چپلکې مې رواخیستې تر لوېې دروازې پورې مې چپلکې په لاس کې نیولې وې،ماویل دپښودغږیا دکشاري له امله راپسې څوک راویښ نه شي،دوی خو مې دمورناروغی ته کومه توجه نه کوي هسې نه چې ماهم دګاونډي له کوره ایساره کړي، کله چې لویې دروازې ته ورسیدم چپلکې مې په پښو کړې،په تګ کې ډیره سخته ویریدم،ځکه چې زموږاو دګاونډي دکور ترمنځ لویه هدیره وه، له ډیرې ویرې مې ټول بدن لړزې اخیستی وو،دامې لومړی ځل ووچې زه په دومره توره تیاره کې دکورنه دباندې راووتم،څوقدمه وړاندې لاړم،مړي ټول په درانه خوب ویده ول،له سترګومې بې دریغه اوښکې روانې وې،په خوله کې مې لاړې وچې شوي وې،پوهیدم چې په هدیره کې پرته له مانورڅوک دسا ایستلو نه شته،دنیاراته ټوله بدله ښکاره شوه،په هدیره کې مې ایخوا دې خوا مخ واړوه،چبک، چبک قدمونه مې واخیستل،له مانه شل پنځویشت قدمه ورهاخوا یو ویره وونکی غږمې ترغوږوشوو، اوووو...ویښتان مې نیغ ودریدل،آیت الکرسي مې په ځان چف کړه،نه پوهیږم چې دا غږدکوم خیوان وو،په هدیره کې یوځل بیاچوپتیاخوره شوه،دوه درې دقیقې وروسته دګاونډي کورته ورسیدم،دروازه مې وټکوله دکورپه داخیل کې دسپو غپه شوه...خوڅوک رامعلوم نه شول،دروازې ته مې یوځل بیا درې څلورټکه ورکړل،داځل دسپو غپه نورزور هم واخیست،خو دروازه چا خلاصه نه کړه،ځکه توره تیاره وه په دې نیمه شپه به څوک دروازه خلاصه کړي؟هیڅ نه پوهیدم چې څه وکړم؟ګډو وډو خیالونو اوفکرونو په سر اخیستې وم،یوناڅاپه مې ذهن ته جمشید راغی

ټلیفون مې رواخیست دجمشیدنمبرمې پکې ډایل کړ دلږځنډ وروسته زنګ تیرشو ،خوتلیفون ته کوم چا ځواب ورنه کړ،یوځل بیا مې نمبرډایل کړخوبیاهم کوم ځواب راته معلاو نه شو ، دځلورم زنګ په تیریدو سره مړاوي او خوبولی غږراغی آلو،الوبریښنا خیرت خودی؟ ځنګه د په دې نیمه شپه تلیفون وکړ؟په ژړغوني غږمې وویل: جمشیده ښښنه غوارم مورمې...خبره مې لا سر ته نه وه رسولي چې جمشیدخبره راپرې کړه ولې په مور دڅه شوي دي؟ژر راته وویه:په بنده،بنده ژبه مې ځواب ورکړ،مورمې،مورمې سخته ناروغه ده په..په کورکې دو...دوا نه وه دګاونډیانو کره راغلم خو....خوهغوی دروازه خلاصه نه کړه، او...اوس مې تاته تلیفون وکړ، که په کورکې دتبې دپرې کولو کوم درمل لرې رایې وړه، زه دګاونډي دکور په خوا کې دهدیرې سرته ولاړه یم،جمشید بې له دې چې کومه پوښتنه وکړي چې ولې ورونه دچیرې دي،ځواب یې راکړ سمه ده په ځان پام کوه زه دادی درغلم،اړیکه یې پرې کړه تلیفون مې جیب ته واچوه، دجمشید راتلو په انتظار شوم،زه په همغه ځای وچه کلکه ولاړه وم نه پوهیدم ولې مې دومره خواص بایللي وو؟یوځل بیا همغه شان ویرونکی اواز شو،وووو....ټوله هدیره تورتم نیولي وه یو اوبل لورته مې مخ واړوه خو څه مې تر سترګو نه شول، غږزما په لور رانږدې کیدونکی وو،وووو....وارمې خطاوو لکه بې روحه جسدکلکه په خپل ځای ولاړه وم،دیوڅو دقیقو وروسته دجمشید زنګ راغی موبایل مې اوکې کړ جمشید لنډوویل که تلیفون بجلي لري بله (روښانه) یې کړه زه دهدیرې سره نیژدې یم هسې نه چې کومې بلې خوا ته لاړشم،ماوویل سمه ده دتلیفون بیجلي مې بله یاروښانه کړه

دلږ انتظار وروسته جمشید راغی،کله چې ترما راورسیده بې اختیاره مې دجمشید غیږې له ځان ور وغورځاوه اوپه ژړا شوم، جمشید راته دتسلی الفاظ وړاندې کول، خوزه سلګوا خیستې وم تر ډیره مې وړې ، وړې سلګۍ ووهلې ژرمې ځان کنټرول کړ، را پاڅیدم له جمشیدنه مې دوا رواخیسته ، ورته مې وویل:جمشیده ته نوره ورځه زه تلی شم،خوجمشید نه منله ترکوره یې راورسولم،په جمشید باندې مې په دې نیمه شپه کې زړه نه کیده چې بیرته لاړشي، خو مجبوري وه چې لاړ وای ځکه دپښتنو وطن دی نه مې شول کولای چې همدلته یې راسره پاتې کړم، له جمشیدنه مې مننه وکړه دتلو په وخت کې یې راته بیادتسلی ډیرې خبرې وکړې زړه مې ډک کیده یوځل بیا غیږې ته وررڼګه شوم په سلګو ، سلګومې وژړل، دجمشید له سترګوهم اوښکې راغلې بایللي خواص مې یوځل بیاسره راټول کړل له غیږې یې راپورته شوم په بیړه کورته دننه شوم دروازه مې پورې کړه ډیره په ورخطایی سره دمورکوټې ته ورغلم، مورمې زګیروای کاوه ماغږ ورباندې وکړ:مورې وه مورې دغه دواه وخوره، خو مورمې راته هیڅ نه وایي زګیروای یې ورو ، ورو ډیریده، دصبر کاسه مې نوره راډکه شوه، غږمې کړ مورې وه مورې پاڅه دادی دوا مې درته راوړه ماچاته پریدې؟مورې وه مورې، مورمې سترګې پرانیستې لاسونه یې راپورته کړل زماسر یې په خپله سینه کیښوده اوښکل یې کړم، کله چې ترې پورته شوم یو ګیلاس اوبه او دواه مې ورته رواخیسته په څه خواریو سره یې له ستوني تیره کړه له دواه خوړلو وروسته مې مور ټوخي واخیسته یوه شیبه بهغلي وه خویودم به بیا ټوخي واخیسته داځل چې له ټوخې ارامه شوه ارامتیایي لږ

وخت ونیوه ماچې کوم آیتونه یادوو هغه به مې لوستل په موربه مې چف کول خو مورمې هماغسې سمه دمه تخته پراته وه دتنفس داخیستو غږنه راته وویریدم هسې نه چې مورمې وفات شوي وي غږ مې پرې وکړموري،مورې وه مورې شک مې په یقین بدل شو ورپورته شوم وه مې خوزوله خومورمې هیڅ حرکت نه کاوه شپه سبا کیدوته په نیږدې کیدو وه،زړه مې راوپړسیده دزړه له تله مې غږ کړ مورې اخیر هم لاړې زه دیوانې دې ظالمانوته پریښودم، مورې سترګې وغړوه مورې وه مورې ولې مې غږنه اورې؟مورې ولې راته غږنه کوې؟مورې داظالمان به له دې وروسته په ما څه کوي مورې،مورې....زما دژړا او پریاد په اوریدومې مشر ورور کوټې ته راغی زه یې چې په ژړا اوسترګې سرې ولیدم په سر یې راته لاس راتیرکړد غلي کیدو یې راته وویل: دپلار دمړینې وروسته دا لومړی ځل وو چې ورور مې په سر لاس راتیرکړ،او تسلي یې راکوله خو ورور مې هیڅ خفه اوپریشان نه معلومیده دزړه تناکه مې یوځل بیاوچاودیده په ژړا او په سلګوشوم نورنو په ځان نه یم پوی شوي.
کله مې چې سترګې وغړولې سرته مې وړې اوزړې ناستې وې چاراباندې دپښوتلې سولول او چا رباندې اوبه شیندلې،یودم کیناستم غږمې کړموري ،وه موري ،مورمې څه شوه موري وه مورې ،له ما چاپیره ناستې ښځې ټولې په ژړا شوې،دناستو ښځوله منځه یوه نجلۍ روړاندې شوه چې سترګې مې ورپورته کړې زما ټولګیواله دجمشید دوی ګاونډۍ نادیه وه ، دنادیه په لیدومې ستونی نورهم وپړسیده په چغو چغو مې وژړل،نادیه دلاسه ونیوم دانګړله منځه یې پورته کړم کوټې ته یې بوتلم،کله مې چې ځان ښه

کابو کړ،نادیه ته مې وویل چې مورمې چیرې ده یوځل مې مورته وروله چې دوروستي ځل لپاره خویې ووینم که نه،خونادیه غلې شوه یوځل بیا مې وویل نادیه مورمې چیرې ده دمورخواله مې وروله نادیه له لاسه ونیوم دلویې دروازې په لورې یې روانه کړم پوه شوم چې مورمې خاوروته سپارل شوي وروستی دیدن یې هم نه شم کولای، دهدیرې په لورې لاړو په هدیره کې مې په نوي جوړ شوي قبر سترګې ولګیدې چې امبار خاورې پې پراتې وې،دمورپه قبر بې اختیاره ورڼګه شوم په سلګو،سلګو مې وژړل مورې زړه دډیر له ارمانوډک ګورته یوړ مورې اوس به په ما دلور غږخوک کوي؟اوس به دخفګان په وخت څوک زما په سر لاس تیروي؟زما دسر وروستی سیوری خو مورې ته وې خدای خبر چې له دې وروسته به زه نوره له څه ډول مشکلاتو سره مخ کیږم ،نادیه هم نورصبردلاسه ورکړ په ژړا شوه راټیټه شوه له مټه یې ونیوم پورته یې کړم ویل یې راځه چې ځو کورته دغه ورځ او شپه مې تولهپه ژړا تیره شوه دمورله مړینې ورسته راباندې دژوند شپې ورځې ډیرې په سختی تیریږې.

## دریم څپرکی

دمورله مړینې دوه میاشتې وروسته مې دورونو ترمنځ ځو،ځوځلې دښځوپه سره شخړه سره وشوه،اووه ورونه مې په اوو لارو لاړل یوازې زه پاتې شوم،کورته به چې ورغلم ورینداري او ورونو به راته ویل چې خپې پیشو لکه چې داوسیدو ځای دنشته،ورشه هغه بل ورورته دې موږ کره داوسیدو خق نه لري ،له درو ورونو مې ګیله نه کوله ځکه هغوی په چرسو اپینو معتد یا روږدي وو، خو له نورو څلورو ورونو مې یو هم دې ته غاړه نه کیښوده چې زه له دوی سره ووسم بس میرمنو به چې ورته څه وویل هغه به یې سرته رسوله اخیر فیصله په دې وشوه چې اووه ورونه یو اووه ورځې به له یو سره وي اووه ورځې له بل سره او اووه...زه به دپیشو غوندې په اوو درنو ګرځم او راګرځم، زما لومړنۍ اونۍ دمشر ورور وصال سره وه،دمازدیګر وخت وو زه په ډوډۍ پخولو بوخته وم چې جمشید راته تلیفون وکړ، اخو دې خوا مې مخ واړوه ماویل هسې نه چې وریندارہ مې ووینې،تلیفون مې له جیبه راویسته، له دوه میاشتینې ځنډ وروسته راته جمشید تلیفون وکړی داوکې تنې مې ووهله تلیفون مې غوږ ته نیږدې کړجمشید په ارام غږ سره وویل:سلامونه بریښنا په بنده بنده ژبه مې وویل وعلیکم سلام جمشیده څه..څنګه یې؟ جمشید ځواب راکړ زه ښه یم ګرانې ته څنګه یې؟ ماوویل په همدې حال شکردی جمشید وویل غږ د ډیرمړاوې دی بیا څه خبره ده بس جمشیده...ما لا ځواب نه وو ورکړی چې په ورینداري مې سترګې ولګیدې نغري ته را روانه وه ،ژرمې ځواب ورکړ چې اوس مې وریندارہ راغله زه

وروسته د رته تليفون کوم اړيکه مې پرې کړه تليفون مې په بيرته جيب ته واچوه، کله مې چې ډوډۍ ته وکتل لوګي ترې پورته کېدل يو مخ يې ټول سوټ بوټ سوی وو ،ډوډۍ مې له تغېنې يا له تبۍ نه لرې کړه وريندارمې چې څنګه انغري ته راغله په سوي ډوډۍ يې سترګې ولګېدې سترګې يې را برګې کړې په غوسه يې وويل سترګې د شته که نه دا ډوډۍ دولې داسې سوې ده مردار خورې په کومو سوچونو کې تللې يې دوه څپېړې يې مخ ته ووهلم د سرله ويښتو يې ونيوم دنغري ديوال سره يې ووهلم،له سترګو مې مرې اوښکې راتوی شوې مخ ته راته کيناسته د سرپه ويښتو کې يې يوځل بيا موټی راډک کړراته يې وويل ژاړه مه دا خويې لا پيل دی،داځل يې په ښې لاس کې ونيوم په سره تبۍ باندې يې لاس راباندې کيښوده،زما له خولې يوه چغه ووته چې له چيغې سره سم زما وراره چې دوصال مشر زوی وو نغري ته په منډه راغی کله يې چې په مور سترګې ولګيدې پرې غږ يې کړ:مورې داخه کوې داپريده لاس دې ورته وسوه، موريې ورپورته شوه دوه ګرمې څپېړې يې مخ ته ورکړې ستا هم لکه چې سترګې ړندې شوې دي دا ووګوره ډوډۍ دا ډول پخيږي؟ وراره مې چې نوم يې يې خيبروو وچې سترګې راته نيولې وې له سترګو نه يې پوی شوم چې وس مې نه رسي له نغري نه د باندې شو موريې هم ورپسې لاړه د باندې نه د خبرو کولو غږ راته خو په خبرو سمه نه پوهيدم دومره پوی شوم چې خيبر د مورسره په اړه خبرې کوي ما چې لاس ته وکتل لاس مې ټول پومبړی شوی وو په ډېز زخمت سره مې پاتې ډوډۍ پخه کړه، له ډوډۍ پخولو وروسته يوې کوچنۍ غوندې کوټې ته لاړم چې ټوله دبې کاره لوخو ډکه وه ځان ته مې پکې ځای جوړکړبيرته نغري

ته لاړم دوی ته مې ډوډۍ تیاره کړه کله چې دوی ډوډۍ وخوړه لوخي مې ټول کړل خپلې کوټې ته لاړم دروازه مې ځان پسې پورې کړه له ځان سره مې ښه ډېروژړل نورمې په سترګوکې اوښکې وچې شوې وې،دمور خبرې مې رایاد شوې چې راته ویل یې لورې زما په ژوندانه چې واده وکړې زه به زیاته خوشاله شم، دازما لوی ارمان دی چې ته زما په ژوندانه واده وکړې، دمورهره خبره مې په ذهن تاویده راتاویده، اوس مې هیڅ نه شول کولای ځکه اوبه چې یوځل له ورخه تیرې ښې بیرته نه راګرځي شپه له نیمې اوښتې وه ټول په درانه خوب ویده ول یو اځې زه وم چې دخپل ژوندانه په اړه رنګه رنګ سوچونو په سر اخستې وم چې په همدې کې زما دکوټې دروازه کراره ،کراه ودربیده، دخپل ځای نه راپورته شوم د دروازې خواته ورغلم دروازې ته په نیژدې کیدوم ې کراره غوندې غږ مې تر غوږوشو:بریښناوه بریشناخیبریم دروازه خلاصه که، کله مې چې دروازه خلاه کړه خیبر په ارامه کوټې ته رادننه شو په لاس کې یې یوه پلاستیکي کڅوړه نیولي وه په ارامه یې راته وویل: بریښنا راشه دلته کینه چې په دې لاس درته دارو وتړم، ما وویل نه خیبره زه نه غواړم چې زما په سر تاته په کورکې کوم مشکل پیدا شي،خیبر وویل دڅه مشکل ماته به څه مشکل پیدا شي؟ماوویل ګوره خیبره ته چې اوس زما په لا س دارو وتړې سبابه دمورته څه ځواب ورکوم چې ما داروله کومه کړل خو خیبرنه منله ټینګار یې کاوه چې باید ضرور دغه دروپه لاس وتړې اخر خیبر مجبور شو په خپله راوړاندې شو په لاس یې راته دارو وتړل زما له سترګو دبې وسی اوښکې راتوی شوې،دخیبر په سترګو کې هم اوښکې ډنډ ولاړې وې، په غمجن او ارام غږ یې وویل ګوره

بريښنا بل وخت دهركارته ښه په زير سره پام كوه مورمې ډيره ظالمه ده له ظلم كولو خوند اخلي ما لا همغسې ورېږ ، ورېږ سلګۍ كولې خيبرراته وويل ګوره بريښنا دومرژر خپل همت له لاسه مه وركوه، هر څه ته چې ضرورت ولرې ديو مهربان ورور په شان به زه ستا په خدمت كې وم له خيبرنه مې مننه وكړه خيبر وويل زه به نورلاړ شم هسې نه چې مورمې را وينه شي ماوويل سمه ده لاړ شه خيبر له كوټې ووته ما دروازه پورې كړه خيبر ته مې په زړه كې ډيرې دعاګانې وكړې،دخداى هم ډيرعجيبه كارونه دي، ديوه ظالم پلار ديوې ظالمې مورله تنه يې داسې صادق او رحم لرونكى انسان پيدا كړى، كاش چې خيبر د دوى زوى نه واى:شپه ورو ، ورو په تيردو وه دشپې مې ټكى خوب وهم نه كړ دسهار لږه وختي دكوټې نه دباندې شوم غوښتل مې چې بيګاني خيرن لوخي به صفا كړم، خو چې انغري ته لاړم لوخي ټول صاف سوتره وينځل شوي دي په شوم چې دا ټول كارونه دخيبر دي شايد چې خيبر دا فكر كړى وي چې دلوخو په وينځلو كې به ترې لټې(سستي ) وشي موراو پلارمې چې راو ينښيږي ته لوخي وينځلى شې، دخيپر له دې كارنه ډيره خوشاله شوم، شكر مې ويسته،ماويل شكر خدايه كه نور څوک نه وي هم يو خوا خوږى خومې شته په دې كوركې ،اوس راته يوا ځې دچاى جوش كول پاتې ول نور ټول كارونه خيبر سرته رسولي ول، لاړم لرګي مې راوخيستل چايير يا چاينک مې په نغري كيښوده زه دنغري خوا كې كيناستم ترڅواوبه جوش شي زه دراتلونكې په اړه په فكر كې شوم چې نوربه راباندې څه ډول خالات راځي،هيڅ نه پوهيدم چې څه وكړم؟دچاي له تياريدو وروسته مې دكورنور كارونه سرته ورسول نغري ته لاړم يوه

پیاله چاى مې ځان ته واچوه همغلته نغري کې مې وڅښه، خپلې ورې کوټې ته چې د کورلوښې کودي پکې ځاى په ځاى شوي وو لاړم، دوه درې دقیقې لا نه وې تیرې چې د جمشید تلیفون راغی اول مې د کوټې نه دباندې ځار وکړبیا مې دروازه پورې کړه تلیفون ته مې ځواب ورکړ، سلامونه دزړه سره څنګه یې؟زه ښه یم جمشیده ته څنګه یې؟جمشید دخپلې روغتیا ډاډ راکړ وروسته یې راته وویل ګرانې یوه پوښتنه کولاى شم ؟نه ګرانه یوه نه سل پوښتنې خو وکړه، جمشید وویل چې ډیر وخت کیږي چې ښوونځي ته نه یې راغلې درسونه د قضا کیږي، ،زما هم ډیره یادیږې،ښونځي ته نوره راځې نه؟ دښوونځي دنوم په اوریدو مې یو سوړ حوصلی وکړ، او وو مې ویل:اى هی جمشیده زه اوښوونځی اوس دومره سره لری یو لکه اسمان او ځمکه،جمشید وویل ولې څه خبره؟جمشید ته مې په لنډو ټکوکې دمورله مړینې را وروسته دژوند مشکلاتو په اړه معلومات ورکړل،جمشید بیا پوښتنه وکړه چې اوس ته له چا سره اوسې؟ځواب مې ورکړ جمشیده زما دژوند په اړه پوښتنه مه کوه،جمشید وویل زه دومره بد یم چې ته راته دژوند په اړه معلومات هم نه راکوې؟په ډک ستوني مې وویل:جمشیده داوسیدوځ...ځاى مې مممم معلوم نه دى،جمشید په حیرانې وویل څه څه؟ما وویل هو داوسیدوځاى مې معلوم نه دى اووه ورونه مې دي اووه ورځې په یو کورکې دمزدورې په صفت کارکوم اووه دبل کورکې او داسې نور...جمشید دا دې خبرې په اوریدو سره اړیکه پرې کړه، دیو څه ځنډ وروسته یې بیا تلیفون وکړ په بنده،بنده ژبه یې وو یل:ته اوس څه فکر او څه پلان لرې چې زه باید څه وکړم،په ډک زړه مې ځواب ورکړ: تراوسه خو کوم پلان نه لرم

خو له دې وروسته به ورته ګورم، هغه بله ورځ چې تا راته تلیفون کړی وو زه په نغري کوم ډوډۍ مې پخوله فکر مې له تاسره وو یوه ډوډۍ رانه وسوزیده، کله مې چې وریندا ره نغري ته راغله په سوي ډوډۍ یې سترګې ولګیدې په سر کې یې ونیولم دنغري له دیوال سره یې ووهلم، زه چې په ژاړه شوم مخکې راته کیناسته دسر په ویښتو کې یې بیا ونیوم راته یې وویل چې ژړا مه دا خو یې لا پیل دی کله یې چې دسر له ویښتو پریښودم په ښي لاس کې یې ونیوم په سره تبۍ(تیغنه)یې زما لاس ونیوه چې لاس مې اوس هم پومبړۍ دی سم کار پرې نه شم کولای جمشید نورخه ویل هم غوښتل،خو خپل غریونیولي ستوني اجازه ورنه کړه چې نورې خبرې وکړي اړیکه یې پرې کړه.دموراوپلار له مړینې وروسته مې په سر چا درحم او شفقت لاس نه وو تیرکړی یو اځیني کسان چې له ما سره یې غم شریکي کوله خیبر او جمشیدوو چې اوس مهال زما هم زیات فکراو خیال له جمشید سره ؤ چې څنګه به یې دژوند دلارې ملګری کړم؟

## ځلورم څپرکی

شپې اورځې تیریدې داختر دغوا په شان به اوو وروڼوبرخه راکې اخیسته دهر ورور په کور کې به مې کار کوه او ځان ته به مې حلاله روزي پیدا کوله، یوه ورځ جمشید راته تلیفون وکړچې نن مازدیګر ستاسو دکور په خواتیریږم ، که دروازې ته یوځل راشې چې له لرې دیدن وکړم هم ښه ده،ما هم له خدای نه داسې ورځ غوښته چې جمشید مې یو نظر لیدلی وای دمازدیګر ځلور بجې وې ورینداار مې په کور کې نه وه دګاونډیانو کره تللې وه چې جمشید راته تلیفون وکړ چې ژر ژر کوه ستاسو دکور دروازې سره نیږدې یم جارومې په لاس کې وه نیم انګړمې جارو کړی وو نیم پاتې وو جارو مې هملته وغورځوله،دروازې ته په منډه ورغلم،له جمشیدسره مې سترګې مشې وکړه،یوڅو دقیقې خبرې مولانه وې کړې چې دګاوندیانوله کوره مې ورینداره راووته له لرې (ورایه) یې سترګې راباندې لګیدلې وې، جمشید دوه پښې خپلې کړې دوه پردی په منډه لاړو غم یې ماته پاتې شو، وریندارمې چې کورته رادننه کیده ما تلیفون په یوه پلاستیکي کڅوړه کې تاوکړ او دخاورو په ډیری کې مې خښ کړ، راغلم دانګړ په جارو کولو مې پیل وکړ، ورینداار مې راغله ماویل کوندې نه یی وم لیدلي څه به راته نه وایي،څنګه چې تر ماراورسیده پرته له کومې خبرې یې دسر له ګڼو ویښتو ونیوم لغتې سوکان یې راته بندکړل په انګړ کې یې تر هغې ایخوا دې خوا کشولم چې دسر ویښتان مې موټې موټې وشکیدل،کله چې په وهلو سترې شوه نو په سپکو سپورو یې شروع وکړه،ډمې،رنډۍ،پلیتې ،کچنۍ

دادي څه شروع کړي دي؟ له کورنه د رنډۍ خانه جوړه کړي ده،دکورپه کارونوبه دهډوکې مات کړم خوخاوندبه په سترګورانه ونه وینې،ته څه فکر کوې چې زه به سباناوي وم او دبل دکور اینګوربه وم نه دا خوب دې روانو اوبو ته وښایه چې یویسي، یو ځل بیا یې دلغتو اوسوکانو پیل راباندې وکړ زما له سترګومړې اوښکې رواني وې هیڅ مې ورته نه شول وایلی، کله چې ماښام وصال کورته راغی، خدای خبر نورې به یې راپسې څه ډول خبرې تړلي وي، وصال ډیر په غوسه کوتک په لاس کوټې ته راغی له کومې پوښتنې پرته یې دسرپه وینبتو کې ونیوم له کوټې راوباسلم په برانډه کې یې کوتک راته سم کړنه یې سرته کتل نه مخ ته هرځای به چې دکوتک وار ته سم شو ګوزار به یې راباندې کاوه، دخولې اوپوزې نه مې وینه روانه وه نورمې وس اوتوان نه درلوده په ځمکه پریوتم دبرانډې ستنې یامتې ته یې ورکش کړم همغلته یې لاسونه راته وتړل،هوا ډیره یخه وه دیخنۍ له وجې مې زامه لړزې اخستې وه ټول بدن مې له سره ترپښو رپیده نن شپه مې بخت دومره خراب وو چې خیبر هم په کورکې نه وو، دکوم انډیوال سره تللی وو دا تمه مې هم پرې شوه ما ویل که نور نه وي خیبر چې راشي لاسونه به راته خلاص کړي، خو زمابد بختې لاس تورې پیشو ښځلی وو، ټووله شپه راباندې ساړه ته تیره شوه ډوډۍ مې نه وه خوړلي یو خوا ساړه وو بل خوا لوږه،سهارچې دوی راپاڅیدل وریندارمې له کوټې رابهر شوه، له ورایه یې راته شونډې بوڅولې کله چې ترما راورسیده لاړې یې راتو کړې نغري ته لاړه بیرته چې راغله دچای پتنوس ورسره وو یوه پیاله ترې ډکه کړه زما دپښو خواکې یې کیښوده هغه هم د دې په خاطرچې وږي شوي به وي

لړه به ورته وزوريږي،وريندارمې كوټې ته لاړه لږه شيبه وروسته راغله راته يې وويل ځنګه وږي شوي خوبه نه يې پياله يې واخيسته چاى يې ترې انګړته توى كړ،راته يې وويل بې چاره ځنګه بيا له چاسره په دروازه كې ودريږي يانه چې دا سزا دياد وي دملګري نوم به بياوانه خلې ته چې دبل دكور اينګور شې زما دكور كارونه به څوك سمبالوي؟څوشيبې وروسته مې مشر ورور وصال له كوټې راووته زما تلاشي يې واخيسته څه يې پيدا نه كړل، لاسونه يې راخلاص كړل راته يې وويل چې دكور كارونه خلاص كړه خو ګوره چې يو خوشند ډوډۍ هم خولې ته يو نه سې كه خبر شوم سزا به د يو په دوه شي، وروږمې لاړو زه هم پاڅيدم مخ لاسونه مې ووينځل جاموته مې چې وكتل ټولې په وينو لړلې وې دكوركارونو له خلاصولو روسته خپلې كوټې ته لړم جمشيد مې ذهن ته راغى ما ويل چې ولې راته تليفون نه كوي خو ژرمې ذهن ته راغلل چې تليفون خومې دخاورو په ډيرى كې خښ كړى دى،زه لا په همدې فكرونو كې وم چې وريندارې مې راغږ كړ،داخترغوا ځنګه په كوټه ننوتي را ووځه ، بې له كومې خبرې له كوټې راووتم، غلي ولاړه وم دبراندې ستنې ته مې ډډه وهلې وه سترګې مې راباندې پټې،پټې كيدې خوب راغلى وو له له پرون سهارنه را په ديخوامې نه خوب كړى ؤ اونه مې ډوډۍ خوړلې وه لوږې او بې خوبى زياته خرابه كړې وم چې وريندارې مې وويل ولې ولاړه يې لاړه شه دغواوو كوټه كې چې څومره ګندګي ده هغه ټوله دباندې ووباسه،زه چې دغواوو كوټې ته لاړم ماويل دومره به نه وي چټاله خوكوټې ته مې چې فكروكړ تابه وايل چې په كال كې هم ورته چا سرنه د ى رابنكاره كړى ترماخوستنه مې ايله سره سمه كړه يوې

خواته بوس پکې زیات خواره واره پراته ول او بل لور ته پکې نوره چتلي ډیره زیاته وه لاسي ګاډی به مې ترې باروله او دباندې به مې له دروازې تویوله ،دکوټې له صفایي وروسته مې لاسونه ووینځل نغري ته لاړم دنغري خواکې کیناستم ساړه نیولي وم،څوشیبې لا ناسته نه وم چې ورورمې راغی له لاسه یې ونیوم راته یې وویل ته لکه چې په خبره نه پوهیږې بیګانې سزادې لکه چې هیره شوه په دروازه کې د بیا څه غوښتل؟له چاسره ولاړه وې ماچې هرڅومره زارۍ وکړې وروره هیله کوم په خدای خوبه باورلرې که نه په خدای باور وکړه په خدای که هیچا سره هم ولاړه وم،خو وروومې خبرې نه اوریدې،وریندارې مې ورته بیادروغ ویلي وو چې په دروازه کې بیاله چاسره ولاړه وه، ورور دپخلنځي مخې ته پورې وهلم دنغري دمیز له سره یې چاړه رواخیسته زه له ویرې ساړه نیولي وم ټول بدن مې لړزې اخیستی وو ،وصال زه په یو لاس له ستوني ونیوم چاړه یې په مرۍ راکیښوده،هیڅ حرکت مې نه شوکولای که خوځیدلي وای اویامې دځان خلاصولو هڅه کړې وای نو چاړه به مې په ستوني را ننوتي وای وصال په غوسناک غږ وویل:که بل ځل دله چاسره په دروازه کې ووینم اویاهم خبر شم سازه به دمرګ وې مرګ پوی شوې،وصال دچاړې څوکه په مرۍ راکیښوده لږزور یې ورکړ له مرۍ څحه مې وینې ووبهیدې وویریدم فکر مې وکړ چې په رښتیا مې وژني، وروومې ډیرپه غوسه ووچاړه یې لیري وغورځوله دباندې لاړو ، ماژړپه مرۍ لاس ټینګ ونیوه چې نوره وینه ترې لاړه نه شي،ښه وو ټپ ډیرژور نه وو وینه یې ودریده،ماخوستن یې بیا په ورې نس دبراندې په مټه یاپه ستنه پورې کلکه وتړلم، خونن شپه راسره بخت

یاري وکړه نن شپه خیبر په کورکې وو دشپې ناوخته له خپلې کوټې راووته اولومړی لاړو نغري ته لږه شیبه وروسته په نغري کې رڼا شوه زه پوی شوم چې په دیګ پسې یې اور بل کړېیا راغی زما لاسونه یې راخلاص کړل دپا څیدلونه لویدلي وم له لاسه یې ونیوم نغري ته یې بوتلم لاسو ته یې اوبه رواچولې خوله مې وریندیله ډیره سخته وږې شوي وم ډوډۍ مې ډیره په بیړه بیړه وخوړه ما ویل هسې نه چې خیبرته زما په وجه په کور کې کوم مشکل جوړ شي خیبرته مې چې سترګې ورپورته کړې له سترګو یې اوښکې رواني وې ماته هم ژړا راغلې وه خو زړه مې غوښتل چې ښه په کریغو کریغو وژاړم خو ځان مې کنټرول کړ پاڅیدم دنغري نه ووتم دهمغې ستنې یا متې په خوا کې کیناستم، خیبر راته وویل راځه کوټې ته دلته ساړه دی، ماوویل خیبره زه نه غواړم چې زما په خاطر ستاژوند په دې کور کې تریخ شي،خوخیبرټینګار کوه چې باید کوټې ته لاړه شې خو ما ونه منله،ورته وومې ویل چې لاسونه مې همغه شان دبراندې په ستنې پورې وتړه، خیبرډیرهغه اودغه وکړل خو چې زما ټینګار یې ولیده مجبور شولاسونه یې همغه شان راته وتړل، کوټې ته لاړویوه کمبله یې رواخیستله زه یې له سره تر پښو پکې پټه کړم خیبر دخپلې کوټې په لور په نه زړه قدمون واخیستل داچې ما دڅو ورځې خوب نه ووکړی په ځان هم نه یم پوی شوي چې څه وخت ویده شوي وم سهار مهال دخیبر او مورترمنځ په لفظي شخړه پسې را ویښه شوم دوریندارې غږ مې واریده چې خیبر ته یې ویل ته له دې رنډۍ نه یئ خبره که خبرشې ژوندی به یې پرې نه دې ټوله ورځ په دروازه کې له پردیو هلکانوسره تیره کړې ، خیبر په لوړ اواز وویل مورې چوف شه

نور مې ماغزه مه خرابه وه ستا یوه خبره هم دمنلونه ده ته دروغ وايي بریښنا چې تر کومه ځایه زه پیژنم نه یې داسې کوم خراکت کړی دی نه به یې وکړي، دمورغږیې نور هم لوړ شو،په تايي بیا کومې کوډې کړي چې ته اوس دهغې پلوی کوې ته هغه نه پیژنې هغه ډیره چالاکه ده،خیبرووېل مورې کوډي موډي نه پیژنم که بیاورسره داسې ظلم وکړئ یابه زه یم په دې کور کې یا تاسې،داډول ظلم څوک له انګریز سره هم نه کوي،ددې په ځای چې ناز ورکړې وه یې نازوې خوشاله یې وساتې ته ورپسې دا ډول خبرې کوې،لږه دځانه او له خدای نه وشرمیږه چې دکور ټول کارونه بریښنا سمبالوي ته لکه دخان لور ورته ناسته یې یواځې خورې څکې اوبس په غوسه ناک انداز سره زما په لورې راغی کمبله یې رانه لرې کړه لاسونه یې را خلاص کړل اولاړ دانګړ منځ ته چې ورسیده بیرته یې مخ راستون کړپه تیز غږ سره یې وویل:بریښنا لږه شان سپکه خبره چې درته وکړي هم ماته ووایه نوره ته ترې خلاصه یې دخیبرمور زما خواته راغله په برګو، برګویې را وکتل له ځان سره ووبګنیده کوټې ته لاړه لږه شیبه وروسته خیبر بیرته راغی په لاس کې یې دوه ډبیه شیدې ورسره وې یوکوټی یې خلاص کړ شیدې یې ترې ګیلاس ته واچولې راته یې وویل دا وڅښه دخیبرمور رډې سترګې له کوټې راووته خو څه یې ونه ویل نیم ګیلاس شیدې مې وڅښلې نورې مې پریښودې،خو دخیبرپه ټینګارمې پاتې شیدې بیرته په سر واړولې خیبر غلی شان موسکی شو راته یې وویل لیونۍ څوچې زما په تن کې ساه وي زه به ستا دیو خادم په شان خدمت کوم، خیبر دباندې لاړو ورینداز مې کوټې ته لاړه زه پاڅیدم په ډیرې چالاکی سره مې تلیفون دخاورو له ډیری نه

راویسته ځکه سباته به دوصال کورنه ځم د دوران دوی کورته هلته به
بیا لکه نوکره کارکوم تر اوو ورځو پورې

## پنځم ځپرکی

شپې او ورځې تیریدې خو دژوند په خوارږو نه پوهیدم ، دمشر ورور
وصال کره مې اوونۍ پای ته رسیدلي وه، په مابنام یي له خیبر سره
له کوره را ووتم دمشر نه دوهم ورور چې نوم یي دوران وو دزرمینې
خاوندوو دهغوی کره روانه شوم،په لاره کې مې زړه ډیر خفه وو ځو
ځلې په ژړا شوم ،خو خیبر راته وویل ژاړه مه هیڅ به درته نه وایی ما
مې تره او دتره ښځه دواړه پوی کړی دي،ما وویل خیبره څنګه چې
ستا مور راباندې ظلم کوی ستامورنه د دوران میرمن زرمینه ور او
ښتي ده، خیبر وویل ولې څه خوبه یي درته ویلي نه وي؟په ډک
ستوني مې ځواب ورکړخیبره درې اوونۍ وړاندې چې کله مې
ستاسو په کور کې نوبت تیر شو دهغوی کره لاړم سمه په دروازه
ننوتي نه وم چې زرمینې راباندې غږ کړ خرې پیشو په خیر راغلې هر
کله راشي نورې مې سترګې دروازې ته درسپینې شوې دمابنام مهال
وو دوران لا کورته نه وو راغلی زرمینې راته وویل الله ژرکوه کوه
خرې پیشو په کور کې ښاخکی اوبه هم نه شته لاړه شه درې څلور
بوشکې اوبه راوړه، زه لاړم له بیزلې نه مې منګی راوخیست دانګړ
منځ ته چې ورسیدم،زرمینې راباندې غږ کړ،اې ،اې خرې
پیشو اودریږه دغه منګی خوزه هم را ډک کولای شم،لاړه شه په هغه
بله کوټه کې داوبو لویه ډبه ایښې ده هغه درسره واخله منګی یې رانه
واخیست لاړم داوبو ډبه مې راو خیسته خوډبه ډیره لو یه وه که ټوله

مې ډکه کړی وای خدای خبرچې ما به په لاسې ګاډی کې هم راوړي وای ،دزرمینې دوی کور دیولوی کمر په غاړه وو له کوره راووتم ډېره مې په لاس لاندې خوړ ته ښکته شوم،ډېره مې نیمه ډکه کړه نیمه پاتې شوه خوبیامې هم په سم ډول سره نه شوه وړلی کله چې له خوړنه پورته خواته ختم پښه مې په کاڼي باندې ووښویده اوډېره مې له لاسه ولویده کوچنی غوندې سوری پکې وشو اوبه تر روانې شوې کورته مې دیوه منګي په اندازه اوبه پکې یوړې زرمینې چې ډېره سوری ولیده په غوسه شوه راته یې وویل تر ځود چې ډېره جوړه کړی نه وي په خدای مې دقسم وي که ته رانه یوه شپه هم په ارامه خوب وکړې نغري ته لاړم یوه پلاستیکي خلته(کڅوړه)مې راواخیسته اور مې ورکړډېره مې لاندې کیښوده دډېرې په سوري ځای باندې مې دخلتې څاڅکي توی کړل خو دادې په ځای چې ډېره جوړه شي دډېرې سوری نور هم لوی شو زرمینې چې ډېره ولیده چې نوره سوری شوه هغې اوس صرف پلما(بهانه)غوښته راغله په هغه بل نغري باندې جوشیدلي اوبه اخیښې وې چاینک یې رواخیسته جوشیدلی اوبه یې په سر باندې راباندې توی کړې دسرپوټکی مې په بل مخ واوړیده اودبدن هغه برخې چې جوشیدلي اوبه ور ورسیدې ټول پومبړی پومبړی شو او کوم ویښته مې چې په سر پاتې وو هغه رانه ستا مور په کشولو ،کشولو وکښل،په هر کورکې رانه بیلې بیلې سترګې باسي، اووه وروڼه اووه وریندارې مې دي هر یو او هرې یوې راباندې بیلا ،بیلا استازي وکړه، هیڅ نه پوهیږم چې دوی راباندې دومر ظلم ولې کوي؟په کور کې دکورټول کارونه زه سمبالوم، خو د دوی بیاهم زړه راباندې نه یخ کیږي،اخیردوی له مانه څه غواړي خیبر ته مې چې

وکتل سترګې يي تکې سرې وې له سترګو پاکولو وروسته يي راته وويل چې هيڅ به درته نه وايي ما دوی ټول پوی کړي دي، کله چې د دوران دوی کورته راورسيدو خيبر رانه رخصت شو زه کورته دننه شوم، داخل مې قسمت لږ څه ښه وو، دې دوران ميرمن په کور کې نه وه پلارګنی ته تللي وه له ورور سره له ستړي مشې وروسته هغې کوټې ته لاړم چې زه به پکې پخوا ويده کيدم لومړی مې تليفون روښان کړ ځکه نن پنځمه ورځ وه چې جمشيد ته مې تليفون نه وو کړی، دجمشيدنمبر مې په تليفون کې ډايل کړ، دلږڅنډ وروسته زنګ تير شودلومړي زنګ په تيريدو جمشيد تليفون اوکې کړوار له واره يي په زاريو پيل وکړ، بريښنا ګرانې ډيره بښنه غواړم چې يواځې مې پريښودې اوزه وتښتيدم ډيردرته شرمنده يم، مااوويل جمشيده هيله کوم داډول خبرې مه کوه زه او جمشيد دواړه يوه شيبه غلي وو له لږ څنډ وروسته مې وويل :آلو،آلو جمشيده خبرې مې اورې؟ خوجمشيد غلی وو بيامې وويل آلو ،آلوجمشيده ولې غلی يي خبرې ولې نه کوې جمشيد غلي شان وويل:

ډيرې خبرې مې په زړه وي
چې يارمې راشي رانه ټولې هيرې شينه

ماورو غوندې وخندل او وه مې ويل ګيله مه کوه دواړه يوشان مرض لرو ،جمشيد خبره بل لورته واړوله ښه هغه بله ورځ خوبه ورينداري درته څه وايلي نه وي؟

زه يوه شيبه غلي وم څه مې ونه ويل، جمشيد غږ کړآلوبريښناولې غلي شوې؟زه پوهيږم ګرانې چې له مانه خفه يي ګرانې مجبوروم چې ستاسو دکورمخه مې پريښودي وای اوتللی وای، مااوويل:هيڅ

كومه خبره نه ده اوښان چې ساتې دروازې به لوړې بېدې،له ډېرو خبر وروسته جمشيد اړيكه پرې كړه،داوس لپاره مې همدومره خبرې بس وګڼلې ما ويل هسې نه چې بيا په كوم مثيبت كې ګيره شم ، تليفون مې جيب ته واچوه له كوټې راووتم،دكوركارونه مې سمبال كړل،په برنډه كې چې كيناستم كوچنى وريرې مې راغبږ كړ چې وروړد غواړي كله چې كوټې ته ورغلم ورورمې لويې بيسترې ته ډډه ياتكيه وهلې وه دوه درې قدمه ليري ترې ودريدم،وروريعنې دوران راته وچې سترګې نيولي وې لكه كوم چرسي يا پوډري چې ښه نشه كړي وي خپل او پردى نه پيژني،زړه كې مې سل رنګه خبرې تيرې شوې، ماويل خدايه خير كړې اوس به راباندې دوران څه ډول قيامت راولي، خداى خبر زه به په كوموسوچونو كې تللي وم، چې غوسه ناك غږ مې دفكرونو لاړى وشلوله، وه نجلۍ تاته وايم ولې په خبره نه پوهيږې ؟درته وايم كينه دلته څو خبرې مې په غور سره واوره، لكه يوه ويريدلي هوسۍ چې دپړانګ له منګولويي په منډه ځان خلاص كړى وي، او دويرې له امله بياهم ژړ،ژركله يوې خوا مخ اړوې كله بلې خوا ، زما خالت هم ديوې ويريدلي هوسۍ په شان وو،ساه مې ډوبه ډوبه كيده،ځانګانونه مې رپيدل په كوم ځاى باندې چې ولاړه وم په همغه ځاى باندې كيناستم،دوران خپلې خبرې داسې پيل كړې:

هغه دپورې كلي دملك زوى خو پيژنې چې يو واده لري ،خو كوم نرينه اولادنه لري، پرون ملك صاحب راغلى ووستاغوښتنه يې وكړه،زه ورسره په څلور جريبه ځمكه راضي شوى يم،سبايابل سباته د دسمال دوړلو لپاره راځي، هرڅه مې ښه پريمانه راوړى دي، په اخلي پخلي به ښه خواري وكړې،د دوران خبره نه وه سم دخنجر ګوزار

وو ،یوڅو دقیقې غلي وم هیڅ سپڼ مې نه خوت،لږ څه مې ځان سره کنټرول کړ، په ویریدلي غږمې وویل: دادا اخیرما...ما کومه ګناه کړې ده چې له دومره ظلم سره،سره مې دڅلور جریبه په بدل کې داسې چاته ورکوی چې یو واده هم لري،اخیر،اخیرولې ؟دوران دسترګوپه برګولوسره وویل چپ شه ته هم اوس دومره شوې چې په دې اړه له ماسره خبرې کوې چې بله خبره له خولې راونه باسې له کوټې نه راووتم په ژړا مې زړه سبه یخ کړ، له ژړا وروسته مې له کوره د تیښتې په اړه فکر کوه ماویل څنګه به له دې غذابه خلاصه شم،تلیفون مې رواخیسته جمشید ته مې تلیفون وکړ خو ځواب یې رانه کړدلږې شیبې وروسته مې بیا ورته تلیفون وکړخوبیاهم جمشید تلیفون ته ځواب رانه کړ،لږانتظارمې وکړ ماویل کوندې جمشید په خپله تلیفون وکړي خو جمشید تلیفون ونه کړ اخیر په دې مې فیصله وکړه چې نوره باید له دې دنیاسره خدای پاماني وکړم زما دورور یعنې دوران دوی کور سره نیژدې یووچ کوهي ووپه سر یې تبی ایښودل شوي وې وومې ویل چې باید همدې کوهي ته ځان ور وغورځوم له دې ژوند نه راته مرګ بهتر دی، مخکې له دې چې ځان کوهي ته وغورځوم یو ځل بیا مې یو وغوښتل چې جمشید ته تلیفون وکړم ګوندې داځل ځواب ورکړی،خوجمشید بیاهم ځواب رانه کړ، نه پوهیږم چې نن جمشید ولې تلیفون ته ځواب نه ورکوي؟زړه مې صبر ونه کړ یولنډ لیکلی پیغام مې ورولیږه ماویل سبا چې دا فکر ونه کړې چې بریښنا زه هیر کړی یم او اوس یې نمبرهم بند کړی دی،پیغام په دې ډول وو چې په سر مې ورته یو بیت ولیکه:
ورکوم ځکه له لاسه عصاب ورو ،ورو

یارې مې سپارې دبیلتون په قصاب ورو ،ورو
دبیت لاندې مې ولیکل چې بې وفا چې کله مړه شم بیادا پوښتنه ونه کړې چې ولې؟په څه؟ څه وخت؟څه ډول رب ورکه کړم؟خیرپه دې خوپوی شوم که زه وم که نه وم چاته څه توپیرنه کوي،هسې هم زما لپاره په دې بې وفانړۍ کې ځای نه شته نوښه به وی چې نور څوک ونه ځوروم اوس یو کار باید وکړم هغه دا چې دخپلو غلطیو بښنه غواړم که چیرې ما زورولی وې پیل یې له تاسو کوم ډیره بښنه غواړم ګرانه جمشیده ماوبخښه خیر دی که ښښې مې نه نو په قیامت کې دې رانه بدل واخله، عمر داوړد له خواښیو ډک،هوسا او ارام ژوند ولرې دهمیشه لپاره بریالی ووسې، ګرانه دورستي ځل لپاره درته وایم چې زما دزړه ټکوره په ځان اوټولو ډیرپام کوه ،زه بې وفانه یم بیاهم وایم چې درسره مینه لرم ډیرمې خوښیږې خونورمې غم او خفګان نه پریدي چې ژوند وکړم
په درانښت ستابریښنا
کله مې چې پیغام سرته ورساوه یو دوه ځلي مې له ځان سره ولوسته ما ویل که کومه تیر وتنه پکې شوي وي چې اصلاح یې کړم،پیغام مې ولیږه تلیفون مې جیب ته واچوه،لاړم منګی مې رواخیسته له کوره داوبو روړلو په بهانه راووتم، سیده دکوهي په لور روانه شوم دوه قدمه به چې وړاندې لاړم یو ځل به مې شاته مخ اړوه ماویل چې څوک مې ونه وینې دکوهي غاړې نه به لس دوولس قدمه لرې وم چې ورور دوران مې له کوره راووته په ما یې چې سترګې ولګیدې راباندې غږ یې کړ:بریښنا وه بریښنا تاته وایم ،یوځل بیامې شاته مخ واړوه نه ګورم چې دوران ورور مې په منډه زما په لورې را روان دی

زه د کوهي غاړې ته ورسیدم، په کوهی باندې ډیرې غټې تبی ایښودل شوي وې ډیرې دراني وې په څه خواریو مې ترې لرې کړې دوروستي ځل لپاره مې وروړته سترګې ور واړولې ورور مې په خواریو او زریو پیل وکړ بریښنا هیله کوم داسې ونه کړې په شرمونو به وشرمیږم،بریښنااې بریښنا داسې ونه کړې،دورور غږونه دکلي ځوانانو هم اوریدلي وو هغوی هم دې لوري ته را روان ووزه دکوهي په غاړه کیناسم پښې مې کوهي ته ور ځوړند کړې زمادې کار سره د دوران چغو نور زور هم واخیست،بریښنا هیله کوم داسې ونه کړې دخدای په خاطرزه دخپلې فیصلې نه تیریږم ، بریښنانوربه ته له ماسره په کور کې اوسې هیڅوک به درته څه نه وایي،ورور مې اوس لس پینځلس قدمه له ما لرې وو زما سترګې له اوښکوډکې وې سترګې مې پټې کړې ځان مې کوهي ته ور وغورځوه نورنو په ځان نه یم پوی شوي.

## شپږم څپرکی

کله مې چې سترګې پرانیستې ځلورو خوا ته مې سپین دیوالونه و،په مغزوکې مې دې دوران وروو غږونو انګازې کولې نه پوهیږم چې زه څنګه ژوندی پاتې شوم او له کومې نه یې څه ډول را وویستم،کله مې چې دپاڅېدو هڅه وکړه په خپله هڅه کې ناکامه شوم دپورته کیدو توان اوطاقت مې په ځان کې ونه لیده،یوځل بیا راباندې دبې هوښه کیدو څپه راغله پوره یو یونیم ساعت به بې هوشه وم داخل مې چې سترګې پرانیستې په کومه بله کوټه کې وم ،همغه لومړنی کوټه نه وه سرته مې خیبر او زما دزړه ټکور جمشید ولاړوو ،په جمشید چې مې سترګې ولګیدې بې اختیاره مې له خولې ووتل جمشیده زما ګرانه جمشیده ولې دې دنیا غمونوته یواځې پرېښودم؟ولې رانه لاړې؟جمشیده زماګرانه جمشیده غږمې په سلګو کې ورک شو،نور مې ستونی دا اجازه نه راکوله چې خبرې وکړم،دجمشید او خیبرپه سترګوکې ډنډ اوښکې ولاړې وې، دواړو یواځې تسلې را کوله.لږه شیبه وروسته ډاکټر راغی څو پرچې ورسره په لاس کې وې خیبر ته یې ورکړې ورته یې وویل چې تاسو کولای شئ چې نور خپل ناروغ کورته یوسئ خو لومړی ورته دغه څو کلمه دوا یې رواخلی حسابي ورکړئ بس تلی شی ،جمشید غوښتل چې نسخه له خیبرنه واخلي دواه او زما دخوشپو اورځو حسابي ورکړي خودخیبرپه ټینګار جمشید له ماسره په کوټه کې پاتې شو کله چې خیبر دباندې دواه اخیستلوپسې لاړ، دا مې دځان له پاره لویه موقع ووبلله،جمشیده ولې دومره بدل شوی یې؟ولې د په هغه ورځ تلیفون

ته ځواب نه راکوه؟جمشید وویل بریښنا ګراني ډیره بښنه غواړم په هغه ورځ رانه تلیفون کور کې پاتې ووخو اوس دادې خبرو کولو وخت نه دی، دا خبرې به لږې په ارامه کوو ،ما وویل ښه چې داسې ده ته څنګه خبر شوي چې ما ځان کوهي ته غورځولی دی؟اوبل زه چا اوخه ډول له کوهي نه رابهر کړم؟جمشید چې ځواب راکولو ته خوله جوړوله خیبر په دروازه را دننه شو په لاس کې یې دواه نیولې وه جمشید بې ځوابه پاتې شو یواځې دومره یې وویل چې هر څه به درته په ارامو مغزو ووایم،خیبر وویل جمشیده ته دا داوه او دکور سامان دباندې موټر ته دروړه زه به بریښنا ته تکیه ورکړم جمشید دخیبرنه دواه او دکمرې نه یې ضروري لوخي چې دکورنه یې راوړي وو له ځان سره واخیستل،خیبرزه له لاسه ونیوم له کټه یې را پورته کړم تکیه یې راکړه، په کینه (چپه)پښه کېنې لاس او سر باندې مې پلاستر تاو شوی وو ،ډیره ترې نه په تکلیف وم، خو کوهي ته مې دځان غورځول دځان لپاره ښه وګڼل که دا پیښه نه وای شوي نو جمشیدبه اوس دخیبر سره یوځای زما لیدوته نه وای راغلی، خوزه دې ته خیرانه وم چې جمشید او خیبر څنګه له یو اوبل سره اشنا شول؟اوڅنګه اوس جمشید زمالیدوته دخیبر سره یوځای راغلی وو؟ایا جمشید به زما پوښتنه کړې وي؟خیبرته به یې دزړه حال ویلی وي؟له خیبر سره به یې څنګه اړیکه نیولې و؟نه پوهیږم چې ترما یې ځان څنګه راورساوه؟په کومه بهانه؟اوپه کوم چل؟دې اودې ته ورته پوښتنومې په مغزو کې ځای نیولی وو ،په همدې فکر ونو او سو چونو کې د دوران دوی کورته ورسیدو ، کله چې موټر د دوران دوی کورمخې ته ودریده، ما چیغه کړه:نه، نه ،نه خیبره زه نه غواړم چې نور د دوران په کورکې

ژوند وکړم،هيله کوم موټر راتاوکړه، دخدای په خاطر ما د دې ظالم په لاس کې بيامه ورکوی هيله کوم، خيبر وويل بريښنا هرڅه به خدای اسان کړي ته ولې خفه يې، ماوويل نه خيبره زه نه غواړم چې بيا د دې ظالم په کورور د ننه شم،خيبره،خيبره ولې مې خبرې نه اورې نه غواړم چېږې....جمشيد مې خبرې پرې کړې بريښنا هيله کوم ته صبر وکړه خيبره که ستا خوښه وي،بريښنادله ماسره کورته لاړه شي، که په کورکې درنه دوران ياکوم بل چا تپوس کاوه نو صرف دومره ورته وايه چې تر اوسه په روغتون کې ده، خيبر وويل جمشيده دوران په خپلو کړو پښيمان دی، هيڅ ظلم به له بريښنا سره نه کوي، که بريښنا اوس له تاسره کورته وليږم دوران خبرشي دا به دې دوران لپاره دمنلو او زغملو وړنه وي،له دې بيانور مشکل هم پيداکيږي،جمشيد نورڅه ونه ويل غلی له موټر نه ښکته شو، دکورمخې ته ودريده خيبر موټر ته دروازه خلاصه کړه،زه په انګړ کې په يوه کټ کې چې لمر ته اچول شوی ووکينولم، خيبر وريندارې ته مخ ورواړوه ورته يې وويل وريندارې چای تيار کړه په حجره کې راسره ميلمانه دي، خيبر دباندې حجرې ته لاړ زه يو ځل بيا سو چونه په مخه کړم چې بيابه راباندې په دې کور کې څه قيامت تيريږي ولې ژوندی پاتې شوم،خدای خبر چې له دې وروسته به راباندې وريندار او دوران څه کوي؟دوی راباندې ولې دومره ظلم کوي؟ايا زه د دوی دمور اوپلار ره نه يم پيدا شوي؟ که پيدا شوي يم نوبياولې په ما باندې له ظلم کولو نه مړيږي؟زه لا په همدې سوچونو کې وم چې وريندارې مې غږ راباندې وکړ، بريښنا اوس څنګه يې؟نه پوهيږم د وريندارې دغه دخواخوږی غږ وو که دملنډوځواب مې ور کړښه يم وريندارې دامې

لومړی ځل وو چې دوریندارۍ له خولې مې خپل نوم واوریده، پخوا به راته چا ویل چې خړې پیشو، چابه وایل داختر غوا، او چا به راته وایل چې سپیر مخي، وریندارۍ مې بیا راته وویل څه خوبه غواړې نه چې دخوراک څښاک له پاره یې درته راوړم؟ماوویل نه وریندارۍ کوم څه ته اشتهانه لرم، وریندارمې نغري ته لاړه جمشید ته یې چای تیار کړ، ماته مې یو ځل بیا مور سترګو ته ودریده، دپلار له مړینې وروسته مې یواځینی دسر سیوری چې راپاتې وو هغه مې ګرانه مور وه، خوداسیوری مې ډیر ژر الله له سره لرې کړ، دمور له مړینې وروسته زه په رښتیایتیمه شوي وم ځکه ورونړو راسره دیو دښمن په شان چلند کوه، دمورهغه خبره مې ذهن ته راغله چې په پسرلي کې ډیره ناروغه وه سترګې پکې لویدلي وې أه یوې کوټې نه بلې ته به مې په لاس بیوله، یوه ورځ چې له ناروغی نه ډیره په تنګه وه زامنو یې ناروغی ته کومه توجه نه کوله، خپلې میرمنې یې په سترګو پټې کړې وې، دمور فریاد مې دومره زیات شو چې زه دویرې له وجې په کوټه کې نه شوم پاتې کیدای، په ریږدیدلي اواز یې وویل بریښنا لورې که له ماسره مینه لرې ما مړه کړه چې له دې زور او درده بې غمه شم خو اخیرهغه ورځ هم راغله چې دمور یو موټی وجود یې تر خاورولاندې کړاود هغې سترګې یې ورپټې کړې ستونی مې را وپړسیده کمبله کې مې ځان ونغښته نه پوهیږم چې څه وخت ووخو ویده شوی وم، کله مې چې سترګې پرانیستې په کټ کې را کیناستم ځای مې بدل شوی وو زه چې کله ویده کیدم په انګړ کې وم اوس چې وینه شوم ځان مې په کوټه کې ولیده، چې ترځنګ مې خیبر هم ناست وو، دماخوستن ۸:۳۰ بجې وې چې خیبر رانه پوښتنه وکړه چې بریښنا خورې اوس

ثنګه یي؟ما وویل شکر دی خیبره الله د تل تر تله ژوندی لره ،له ما سره د ډیره همکاري وکړه، خو کاش چې خیبره مړه شوي وای ژوندی نه وای پاتې شوي،خیبر وویل لیونۍ کیږه مه دا دنیا امتحاني دنیاده په چا دژوند شپې اورځې ښې تیریږي په چا بدې، خدای ته به همدا منظوره وه. له ډیرو خبرو وروسته خیبر ډوډۍ او دواه راکړه راته یي وویل چې نوره ویده شه ، له سوچو نو اوفکرونو څه نه جوړیږي،کله چې خیبر پورته شوغوښتل یي چې له کوټې نه بهر شي مخ یي رواړوه موسکی شو، جیب ته یي لاس کړ تلیفون یي رواخیست ما چې په تلیفون سترګې ولګیدې زړه مې په درازه شو،ځکه له خیبر سره په لاس کې زما تلیفون وو ،ما هیڅ ونه ویل ځکه اوس اوبه له ورخه تیرې وې،خیبر راوړاندې شو تلیفون یي ما ته راکړ راته یي وویل په تلیفون کې مې درته خپل نمبر ثبت کړی که د تلیفون چارج کریدټ یاهم کوم بل څه ته د ضرورت شي ما ته تلیفون کولای شې،دخیبر په دې خبره مې په سترګو کې له خوشالې ورځې اوښکې راغلې ځکه ما به تلیفون په ډیرتکلیف سره چارج کوه، کله چې خیبر له کوټې ووت زه له کټه راپورته شوم په ډیرې خوارۍ مې ځان دروازې ته ورسوه،دروازه مې پورې کړه بیرته د دیوال په تکیه خپل کټ ته راغلم،په تلیفون کې مې لومړی دجمشید نمبر رواړوه ما شکر ویست شکر خدایه چې نمبر خو پکې شته،دجمشید نمبر مې ډایل کړ دلومړي زنګ په تیریدو جمشید موبایل اوکې کړ، آلو سلام علیکم بریښنا جانې څنګه یي؟ما ویل شکر دالله فضل دی زه ښه یم ته څنګه یي؟جمشید په بنده بنده ژبه وویل زه...زه روغ یم ګرانې په...په خدای قسم که ،که یوه شیبه مې هم له یاده وتلې وې،دا ټول زما دلاسه بریښنا:که...،که...که ما په هغه

ورځ تليفون ته ځواب وركړى واى ته به...،ته،به اوس ولې په دې حال كيداى،ولې به تا ځان كوهي ته غورځوه دا ټول قصور زما دى،ماوويل جمشيده هيڅ پرواه نه كوى له كمان وتلى غشى بيرته نه راګرځي، له دې خبروبه تير شو اوس ما ته دڅو پوښتنوځوابونه راكړه ،لومړى راته دا وويه چې څنګه خبر شوې چې ما ځان كوهي ته غورځولى دى؟جمشيدوويل سهارچې له خوبه پاڅيدم له لمانځه اوچاى څكلو وروسته ښوونځي ته روان وم چې په لاره كې له ټولګيوال سره مخامخ شوم، له سترې مشي او جوړ تازه څخه وروسته يي راته وويل چې زمونږ يوې ټولګيوالې چې اوس يي ښوونځى پريښودى چې نوم يي بريښنا دى پرون مازديګريي ځان كوهي ته غورځولى،

ماوويل څه بريښنا ځان كوهي ته غورځولى؟ټولګيوال راته وويل هو ،مابيا پوښتنه وكړه چې ژوندى ده كه پور يي پرې كړى دى؟اوبل ته څه خبرشوې چې بريښناوه؟ ټولګيوال راته وويل:پوهيږم نه چې ژوندى به وي كه پوربه يي پرې كړى وي؟دومره خبر شوم چې له كوهي يي راپورته كړي ده او اوس په روغتون كې ده،پرون مازديګر مې ورور راته وويل چې د دوران غږونه مې واوريدل چې ويل يي بريښنا دخداى په خاطر چې داسې ونه كړې زه دخپلې پريكړې څخه تيريږم، به شرمونوبه وشرميږم،بريښنا هيله كوم چې داسې ونه كړې،ورورمې ويل چې زه په بيړه له كوره راووتم چې وګورم چې څه لوبه روانه ده،چې په همدې كې مې سترګې په دوران ولګيدې چې بريښنامخكې چابک،چابک قدمونه اخلي او دوران له شانه په تيزى

سره دبرېښناپه لوروو،چې يوناڅه برېښناځان كوهي ته ور وغورځوه،له ټولګيوال سره مې رحصت واخيست سيده دروغتون په لوري روان شوم، دوه درې دقيقې مزل به مې لانه وي كړې چې موبايل ته مې يو نا اشنا نمبرنه زنګ راغى له هغې خوا ورخطا غږ راغى سلامونه وروره ستا،ستا نوم جمشيد دى، ما وويل هو زما نوم جمشيددى امر كوه،هغه ځواب راكړ نوم مې خيبر دى دوصال زوى دبرېښناوراره يم،ستا دنوم په اوريدو مې په وجود لړزه راغله،په ورخطايى كې مې وويل خيبره ژر شه راته وويه چې برېښنا ، اوس څنګه ده؟خيبروويل چې اخساساتي كيږه مه ته پلانكي روغتون ته ځان راورسوه، اړيكه مې پرې كړه زه په ځان وويريدم ما ويل خدايه خير كړې چې كوم مشكل راته جوړ نه شي.كله چې روغتون ته ورسيدم خيبرته مې په همغه نمبر تليفون وكړ،خيبرراته وويل چې پينځم نمبر بلاک ته راځه زه چې پينځم نمبر بلاک ته ورسيدم جمشيد را وړاندې شو راته يې وويل ته جمشيديې؟ماوويل هو،ما په ورخطايي سره كله يوې خوا مخ اړوه كله بلې خوازماستركو ته لټولې،خوزماپه خركتونوباندې خيبر پوى شو له اوږې يې ونيوم سيده ستا كوټې ته درغلو ، تاته دويني ډراپ لږول شوى وو ،ستاپه ليدو مې خپل خواص وبايلل خوځان مې كنټرول كړ،ته تر اتو ورځوپورې ته پوره په ځان نه پوهيدې، ستركې به دې تر يو څو دقيقو خلاصې وې خوبيرته به د ستركې پټې كړې،په نهمه ورځ دچې ستركې پرانيستې لږه روغه غوندې ښكاريدې، خو پيژند ګلوي د نه شوه كولاى ډاكترانوبه وايل چې غرض پرې مه لرئ، جمشيد نورغلى شو ما ترې وپوښتل ښه خيبرته ستا نمبر چا وركړ؟جمشيد وويل چې

خیبر نمبر ستا له موبایل نه اخیستی وو کله چې تا ځان کوهي ته غورځوه کوم پیغام دچې ماته رالیږلی وو ،هغه پیغام او زما نمبر دې له موبایل نه نه وو ړنګ کړي،خیبر چې تاپسې کوهي ته کوز شوی وو ته یې چې پورته خواته خیژولې ستا له جیبه موبایل ولویده خیبر چې موبایل رواخیست ستارالیږلی پیغام یې لیدلی وو، خیبر سمدستي پوی شوی وو چې بریښناضرورله جمشید سره مینه لري، داټولې خبرې راته خیبر هغه بله ورځ وکړې، ماوویل څنګه جمشیده ته اوس خوشال نه یې چې خیبر موله مینې نه خبرشو؟جمشید وویل ولې نه خیبردالله ژوندی لري ډیرمینه ناک ځوان دی په ښو اوبد ډیر ښه پوهیږي، ماو اوجمشید ډیرې خبرې وکړې یواو اوبل ته مو شپه په خیر وویل اړیکه مې پرې کړه موبایل مې بند کړیوځل بیامې په مغزو دفکر پیری کیناست رنګ،رنګ خبرې مې په مغزو کې تلې او راتلې،په همدې فکرونو کې ویده شوي وم.
دسهار اوه اونیمې بجې به وې چې چې دکوټې دروازه وټکیده،له کټ نه د دیوال په ملتیاپاڅیدم ډیرپه ارامه سره مې ځان دروازې ته وروسوه دروازه مې خلاص کړه خیبر راته وار له واره سهارپه خیر وویل اودپاڅیدو مبارکي یې راکړه چې شکر خدایه چې روغه دوینم، څنګه بیګاه شپه د خوب وکړ؟ماوویل هو خیبره الله د درسره ډیرښه وکړي ډیر ښکلی خوب ومې وکړ،خیبر ووپوښتل څنګه کوم ځای خوبه د درد نه کوي؟ما وویل نه درد نه کوي خو له پلاستر ډیره په تکلیف یم،خیبر وویل یواځې یوه اوونۍ بله هم ته باید په پلاسترو کې تیره کړې له هغې وروسته به روغتون ته ځو که ډاکټروویل چې روغه ده پلاستربه یې خلاص کړو، زه او خیبر په خبرو بوخت ووچې

دوران کوټې ته راغی غوسه ښکاریده پوښتنه يي وکړه چې څنګه یی اوس ماورته دومره وویل چې روغه یم،دوران ډیرې خبرې ونه کړې ژر له کوټې ووته زما په سترګو کې اوښکې راغلې ګیله راته ودریده ماوویل دخلکو څومره ښه ورونه وي خویندې څومره پرې ګرانې وي څومره زیات ناز ورکوي ما خو دخپلو ورونږونه یوه خوږه خبرهم له پیدا ایښت نه تردې دمه ونه لیده،خیبر راوړندې شو زما اوښکې یې راپاکې کړې،وه یي ویل له ځانه لیونی مه جوړه وه ژړا داوس صحت ته تاوان لري ، دخیبر په دې خبره راته نوره ګیله هم ودریده وومې ویل: خیبره ای خیبره ته وګوره چې دوی په مابانديې،څومره ظلم کوي ،اياخیبره ورور دې ته وایي چې دوی... ،دوی...دوی ما په کورکې نه شي ساتلی،دیوې مزدورې په شان به په اوو کور نوکې دکورټول کارونه زه سمبالوم، چې کاروکړم ډوډی به خورم که کار ونه کړم نه به ډوډی خورم نه به اوبه څښم او نه نورڅه ډوډۍ مې زهرکړې خو چې وهل ټکول یي راته نه راکولای،خیبروویل بریښناخدای په هرڅه قادردی الله هرڅه ويني،ته مه خفه کیږه خیبر داخبره وکړه پورته شو دمیز له سره يي دواه رواخیسته راته يي وويل دواه وخوره خدای به هرڅه اسانه کړي دواه مې وخوړه خیبر لاړو کله کله به ورينداري هم کوټې ته سر راښکاره کړو په نه زړه به يي زما پوښتنه وکړه ژر به بیرته له کوټې ووته همداسې به دوران وروړهم سر راښکاره کړ له پوښتنې وروسته به ژر له کوټې نه ووته،شپې او ورځې تیریدې زما صحت ورځ تر بلې ښه کیده خیبربه هره ورځ زما پوښتنې ته راته او دضرورت وړ شیان به يي راوړل ، هغه ورځ هم راغله چې زه جمشید او خیبرپه ګډه روغتون ته بوتلم ډاکټرچې زما معینات وکړل راته يي وويل

شکردی اوس روغه جوړه یي، خیبر او جمشید زیات خوشال شول، خوزه هیڅ خوشاله نه وم ځکه چې زما په روغیدو سره به یو ځل بیا زما ورورنه او وریندارې په ما ظلم او وستازي شروع کړي، کله چې بیرته کورته راغلم خیبرپه کورکې زما وریندارې او زما ورور دوران ته ډیرې خبرې وکړې چې ډاکتر ورته تر یوې میاشتې دکار دنه کولو ویلي دي په بریښنابه تر یوې میاشتې پورې کار نه کوئ، وریندار او ورورمې غلي شول هیڅ ځواب یي ورنه کړ.

## اووم څپرکی

شپې او ورځې تیریدې خو دژوند په خوند اورنګ هیڅ نه پوهیدم یواځې هغه ورځ به لږه روغه رابا ندې تیره شوه چې یابه مې له جمشید سره په موبایل کې خبرې وشوې اویا به مې له جمشید سره لیدل کتل وشول،هغه ورځ زما په ژوند کې تر ټولو ښکلې ورځ وه کله چې سهار له خوبه راپورته شوم موبایل مې روښان کړ څو دقیقې وروسته د ګران محبوب جمشید پیغام راغی پیغام داسې وو:

سلام ګرانې اوزړه ته راتیرې برېښنا الله دوکړی چې اوس به د صحت دپخوا په نسبت ښه وي، هر سهار چې له خوبه راپورته شم ستا نمبر په موبایل کې ډایل کړم غواړم چې خبرې درسره وکړم خو سره دډیرې هڅې بیاهم په خپله هڅه کې ناکام شم ،نن مې یویشتمه ورځ ده چې خبرې مې درسره نه دي کړي،خواخیرمې دا غوره وګڼله چې په لنډ لیکلي پیغام کې درته دمینې په اړه څوخبرې درولیږم، نن مې دمینې دخبرو په نوم یو کتاب ولوسته په هغې کې په یوه پاڼه کې لیکل شوي ول چې:څوک چې مینه کول نه غواړي ،هغه غیرت نه لري،همت نه لري،

اړینه نه ده چې یواځې له ښځې سره مینه وشي،مینه دژوند یو ضمانت دی،بې ځایه دی هغه زړه چې مینه پکې نه وي،څوک چې دزهرو پیاله نه شي څکلی آیا هغه به مینه وکړي؟

مینه یو نه فناکیدونکی حقیقت یوه ستره کارنامه ده،مینه یوه داسې لوبه ده چې عقل پکې له ماتې سره مخ کیږي،مینه یو داسې انځور دی چې نقشې پکې انځور شوي دي،مینه یوه داسې هیله ده چې ته به یې

نه کوې خو تر سره کیږي،مینه یو داسې انځوردی چې هر انسان ته پرته له کومې بیې څخه مساعده وي،له هغه چاسره مینه مه کوه چې دنیمې لارې ملګری وي،دنیابدله شوه او دمینې ډول هم،بس همدومره،او یوه خبره بله نه پوهیږم چې ستا ورونه له تاسره دومره ظلم ولې کوي؟پرون په کلي کې دیو ځوان له خولې خبر شوم ستا په اړه یې خبرې کولې...خبرې ډیرې دي ټولې درته په پیغام کې نه شم لیکلی،کله چې تلیفون خلاص کړې پیغام ولولې ماته یوځل ضرورتلیفون وکړه.

په درانښت ستا محبوب جمشید

پیغام مې چې ولوسته بې له ځنډه مې جمشیدته تلیفون وکړ، آلو،اسلام علیکم بریښناجانې څنګه یې؟ ماورته وویل دالله فضل دی ګرانه زه ښه یم ته څنګه یې؟ما څه بلا وهي رک روغ یم،ګرانې وروڼواو ورینداار خوبه بیا څه درته نه وي ویلي؟نه ګرانه تراوسه خویې څه نه د ویلي خو له دې وروسته ویر یږم هسې نه چې بیاربانډې رښا ورځ توره تیاره کړي،جمشید وویل ګرانې ته خفه کیږه مه انشاالله په دې لنډو ورځو کې به دې له دې تکلیفونو نه خلاصه کړم،ما وویل څنګه پوی نه شوم مطلب د څه دی؟ته به ما څنګه له دې تکلیفونونه خلاصه کړې؟جمشید وویل: اې ساده زه به ډیر ژر خپل مور او پلار په جرګه در ولیږم،اوستا دسمال به راوړي،ما یو سوړ حوصیلی وکړ،جمشید وویل:ولې دحوصلی وکړ؟څه خبره ده؟ جمشیده ګرانه خدای دې وکړی چې ستا سو جرګه وو منل شي، که وه نه منل شي زه به څه کوم؟ زه خو نور څوک نه لرم، چې دهغه په نوم ژوندی پاتې شم،یواځې او یواځې ته یې،جمشیده که وصال دوران او زمانور

ورونه ستا جرګه رد کړي،زه به له ډیره غمه مړه شم،جمشید وویل ګوره بریښنا دومره مه لیونۍ کیږه،الله به هرڅه اسانه کړي،زه مې خپله خبره له خیبر سره شریکوم، ګورم چې خیبر ماته څه ډول مشوره راکوي او دخیبر څه ډول خوښه ده،؟ماوویل ګرانه دا دې ښه خبره وکړه خیبر زما اوستا ډیرخیال ساتي،انشاالله چې خیبر به نه ستړې کیدونکي هلې ځلې وکړي،جمشید چې خبره بشپړه کړه،ماته دځواب موقع پیدا نه شوه ځکه ورینداره مې کوټې ته را روانه وه په ورخطایی سره مې وویل جم...جمشیده !جمشیده !ګرانه ورینداره مې راغله دخدای پامان، اړیکه مې پرې کړه زه ډیره ورخطا وم،دا دې په ځای چې موبایل پټ کړم جیب ته یې واچوم، موبایل مې لا همغسې په لاس کې نیولی وو ،ورینداره مې رانه په نه زړه پوښتنه وکړه بریښنا څنګه یې اوس؟ما په ډیرې ورخطایې سره ځواب ورکړ،ورین...ورینداره اوس د په...پخوا په نسبت ښه یم، ورینداره چې زما دا ورخطایي ولیده، نوره هم را وړاندې شوه،زما په لاس کې یې موبایل ته پام شو،راته یې وویل په دې موبایل څه کوې؟دا موبایل دچا دی؟ما همغه شان په ماته ګوډه ژبه ځواب ورکړ:ورین...ورینداره دا...دا دخیبر...خیبرنه پاتې ش...شوی دی، ورینداره مې وویل ته راکه دا موبایل،موبایل یې په لاس کې یوې او بلې خو واړو را واړوه، په غوسه یې راته وویل پلیتې، بې شرمې،رنډۍ ژر راته ووایه، چې په موبایل کې له چاسره غږیدې؟اودا موبایل د له کومه کړ؟زه نوره هم ورخطا شوم،وري...ورینداره په...په خدای با...باور وکړه چې دا... دا موبایل د...دخیبردی،وریندار بیا په غوسه ناک انداز وویل: چپ،چپ ،چپ

شه مرداري چې بله خبره ونه کړې دخیبر موبایل ما نه دی لیدلی،لږ وړاندې خیبر تلیفون کړی وو له خیبر سره مې خبرې وکړې بیا څنګه دا موبایل د خیبر شو؟ما خو تر اوسه داموبایل دخیبر سره نه وو لیدلی،له مانه هم دخبرو کولو لوری او طرف ورک شو،هیڅ ځواب مې نه درلوده،ورینداري غوښتل چې یوځل بیا مې له ویښتو ونیسي، وهل ټکول راکړي، کله یي چې لاس زما د سر ویښتو ته را پورته کړ، بیر ته پښیمانه شوه،نه پوهیږم چې د خیبر خبرې وریاد شوې که کومه بله خبره وه،ورینداري په برګو ، برګو راوکتل موبایل یي په لاس کې پورته، پورته غورځوه غوښتل یي چې له کوټې څخه دباندې شي، ماسل زړونه سره یو کړل په ماته ژبه مې وویل:ورینداري دخدای... دخدای په خاطرچې...ورونږوته مې ونه وایي، او بله خا...خبره دا چې که...که زمانه منې په...په خپله خي...خیبرته تلي...تلیفون وکړه،له هغه نه پوښ... پوښتنه وکړه چې له بریښنا سره تلیفون ستا دی؟ورینداري وویل سمه خبره دوکړه که خیبر انکار وکړي نو بیا ؟ما وویل: بیا چې ستا څه ډول خوښه وي هغه وکړی،ما دا خبره وینداري ته ځکه وړه چې خیبرنه تپوس وکړه ما په خیبر پوره باور درلوده،چې ورینداري ته به وایي چې دا تلیفون له مانه هلته پاتې شوی دی،همداسې وشول کله چې ورینداري خیبر ته تلیفون وکړ له خیبر نه یي تپوس وکړ، خیبره له بریښنا سره یو تلیفون دی دا رښتیا له تانه پاتې شوی دی،ورینداري په تلیفون اواز پورته کړ، زما زړه دګ، دګ کول ما ویل خدای دخیر کړي،خیبر وویل هو ، هو ورینداري له مانه پاتې شوی، پرون شپه چې هلته درغلی وم دبریښنا کوټه کې رانه پاتې شو، وریندار مې ډیره چالاکه وه، وه یي

خندل د خيبرنه بيا پوښتنه وکړه، ښه چې تليفون ستا دی له تانه پاتې شوی د خپل تليفون رنګ او کمپني راته ښودلی شې؟خيبر لږه شيبه غلی وو بيا يي وويل: هو ولې يي نه شم ښودلی،ښه ستا تليفون څه ډول رنګ لري؟او د کومې کمپنۍ دی، خيبربې له ځنډه ورته د تليفون رنګ او کمپني وښوده،کله يي چې اړيکه پرې کوله خيبر ورته وويل تليفون بريښنا ته ورکړه زه لږ وروسته درځم،ورينداري وويل نه دې ته ضرورت نه شته، تليفون له ماسره دی کله چې راغلې، تليفون به درکړم، خيبروويل ښه سمه ده پرواه نه لري، يا له بريښنا سره يا له تا سره صرف دومره وکړه چې تليفون بند کړه،خيبرچې اړيکه پرې کړه زه زياته خوشاله وم ما ويل خيبره الله د تل تر تله ژوندی لره، د خيبر په دې خبره هم زياته خوشاله شوم چې ورينداري ته يي وويل چې تليفون بند کړه، شايد چې خيبر دا فکر کړی وي کيدای شي چې جمشيد ورته تليفون وکړي، په زړه کې مې بې شميره دعاګانې خيبرته کولې، زه هم اوس روغه وم د مور له مړيني وروسته مې د ژوند ارامه شپې يوځې دناروغی شپې وې،چې په ما باندې ارامه تيرې شوې،په دې موده کې راباندې چا غرض نه درلوده زه لږه ارامه وم دغرمې له دولسو بجو څو دقيقې تيرې وې چې خيبر راغی، له سترې مشي او روغبړ څخه وروسته يي د تليفون پوښتنه وکړه، ما ورته وويل له ورينداري سره دی، خيبر له ورينداري نه تليفون واخيسته ماته يي مخ را واړه وه چې بريښنا ځان تياره وه چې ځو ،ماوويل خيبره چرته؟ خيبروويل زمونږ کورته،ما وويل د اوونۍ نوبت خو مې تاسو کره نه دی ته مې ولې کورته بوزې؟خيبروويل زه مې له پلار او مور سره غږيدلی يم له دې وروسته به ته له مونږ سره يوځای اوسې کور په کور به نه

ګرځې،دخیبرپه دې خبره ډیره خوشاله شوم، خو په زړه کې لږه خفه وم،ماویل دخیبر موربه له ماسره بیاڅه ډول رویه او سلوک کوي؟زه غلې وم څه مې ونه ویل،خیبر وویل ولې غلې شوې زماپه دې کار خوشاله نه شوې؟ما وویل ولې نه خیبره زیاته خوشاله شوم خوستا مور نجیبه زیاته ظالمه ده،زه چې اوس ټول عمر له هغې سره په کور کې شم نوربه راباندې څه ډول ظلم کوي؟ خیبر وویل ژرکوه لیونۍ کیږه مه جامې د بدلې کړه چې ځو،زه هم ژر لاړم جامې مې بدلې کړې ، مافکر کوه چې وریندا اره به رحصت راکړي ځکه زه بیادلته نه راتلم، خو وریندارې هیڅ راته ونه ویل،خیبرته یې رخصت ورکړ زه یې همداسې پریښودم ګیله راته ودریده، په سترګو کې مې اوښکې ډنډ ولاړې وې دوروستي ځل لپاره مې ور وکتل او روانه شوم، کله چې له خیبرسره په موټر کې کیناستم په ټوله لار کې راته نصیحت وکړ، دخپلې مور په اړه یې راته وویل چې مور مې هر څومره سخته خبره درته وکړي هم ته چوپه پاتې کیږه، هیڅ ځواب مه ورکوه همدا شان مې پلار ته هم ځکه له مانه زما مور او پلار تا ته ښه معلوم دي چې څومره غوسه لري په کوم کار غوسه ورځي په کوم کار نه، په همدې خبرو خبرو دخیبر دوی کورته ورسیدو، کله چې له موټره راښکته شوم دخیبرمور نجیبه سترې مشي ته را وړاندې شوه،ښه، ښه راغلاست یې راته وکړ، زه هم زیاته خوشاله وم دامې دژوند لومړی ښه، ښه راغلاست ووچې ماته وویل شو او وریندار مې په خپل راتګ خوشاله ولیده،زه لا په انګړکې ولاړه وم چې دوریندارې کوچنۍ لور په زړا شوه،وریندارمې لاړه چې لور کراره کړي،زه کوټې ته لاړم خیبر هم راپسې راغی راته یې وویل بریښنا یوه خبره بله هم

واوره چې په موټر کې له مانه هیره شوي وه، ستا تلیفون له ما سره دی
اوس یې نه شم درکولای، ما وویل ولې؟خیبر وویل په دې خاطر یې
اوس نه شم درکولای هسې نه چې مور او پلار مې درباندې خبرشي زما
او دجمشید جوړه کیسه به ورانه کړي،ماوویل ستا او جمشید جوړه
خبره،خیبروویل هو زما او دجمشید جوړه خبره،ماوویل :څه ډول
خبره؟ زه خو پوی نه شوم،خیبروویل: ما دجمشید سره ستا دواده په
اړه خبره کړې انشاالله چې په دې نن سبا کې به جرګه راولیږي،نیږدې
وه چې له خولې نه مې دخوشالی نه کریغې وتلې وای خو خیبر مې په
خوله لاس کینښوده یوه خبره بله مورمې ډیره چلاکه ده که له تانه یې
دجمشید په اړه پوښتنه وکړه چې اقرار ورته ونه کړې ورته ووایه چې
جمشید څوک دی زه یې له سره پیژنم هم نه، ما ورته وویل ولې تا مور
ته دجمشید په اړه څه ویلي دي؟خیبروویل یواځې مورنه بلکې
پلارمې هم په دې خبره راضي کړی چې بریښنا به دجنید خان زوی
جمشید ته په نوم کړو، پلارمې وویل دا خو ډیره ښه خبره ده، خویوه
خبره شته موره خونه شوپسې ورتلی چې ورته ووایو چې مور،
بریښنا ستازوی جمشید ته درکوو،ایا دوی به په خپله راشي دبریښنا
غوښتلو ته اوبریښنا به دوی قبوله کړي،ماورته وویل پلاره دا خبره
چې ماتاسوته وکړه هغه بله ورځ دجمشید پلار دا خبره ماته کړې وه
چې ته دپلارسره خبره شریکه کړه پلارمې ځواب راکړ له دې نه بله
دخوښۍ خبره نه شته، اوس صرف، اوصرف دجمشید په انتظاریم
چې جمشید خپل مور او پلار په جرګه راولیږي،نور کار خلاص دی.
خیبر خبرې بس کړې دباندې لاړو زه مخ په قبله کیناستم لاسونه مې
دالله په دربار کې لپه کړل خیبرته مې دعاګانې کولې.

## اتم څپركى

داڅوماشتي راباندې ډيرې په خوشالى کې تيرې شوې خو دخوشالى سره،سره انتظار ډيره زوروولم، سترګې مې دروازې ته سپينې شوې وې چې كله به دخيبرمور په دروازه رادننه كيږي؟دخيال مرغه مې كله په يو باغ كې وزرې رپولې كله بل باغ کې، چې ورينداري رباندې غږ وكړ: بريښنا ! داڅو ورځې داسې چرتي معلوېږې چې څه خبره ده؟ما ورته وويل نه ورينداري كومه خبره نه شته هسې كله كله راته ماشومتوب ياد شي،دماشومتوب هم ډير عجيبه ژوند وي،ورينداري مې خبره تايد كړه او په خداى بې غمه بې درده وي دهيڅه غم ورسره نه وي څه يې چې خوښ شول او كوم كار چې ورته ښه ښكاره شو كوي يې، ماوويل او ورينداري همداسې ده خو ورين...خبره مې لا بشپړه كړې نه وه چې ورينداري خبره رانه ونيوه،راځه پريده دافكرونه او سوچونه هرڅومره فكر او سوچ چې وكړې ماشومتوب نه شې پيدا كولاى، راځه دبې ځايه فكر په ځاى به دكور صفايي وكړو ،ځكه سبا بله ورځ ميلمانه را روان دي ماوويل ورينداري ميلمانه څوک دي؟ورينداري په موسكا ځواب راكړ سبا يابله ورځ داسې ميلمانه را روان دى چې ته به دهغوى دكور ميرمن شې،الله ژركوه چې بيانا وخته كيږي، زه او ورينداره دواړه يو ځاى دكور په كارونو بوختې شوو ،دورينداري او دورور سلوک اوس له ما سره ډير ښه وو ، ځكه پخوابه يې راباندې امر كوه چې خړې پيشو داسې وكړه داكار مه كوه دا دې ولې داسې وكړ؟ داسې كار

ځوک کوي؟خونه اوس یي پوره، پوره بدلون کړی ووهغه دخیبر له برکته،زه او وریندار دکور په صفایی بوختې وو چې خیبر راغی کله یي چې زه او خپله موریي دواړه یوځای په کار ولیدو وه یي ویل چې ماشاالله ځومره ښې ښکاری الله موتل همداسې سره یوه خوله لره تاسې چې دکور په هر کار کې لاسونه سره یو کړی هغه کار که تاسو په ساعت یادوو کې خلاصو ی نو په نیم ساعت کې یي په شریکه خلاصولی شئ،او رښتیابریښناته یوځل دلته راشه دموټر نه دغه توکی راسره ښکته کړه ځکه چې سباته ستا....خبره یي نیمګړی پریښوده راته موسکی شو له موټر نه موسامان راښکته کړ،خیبر بیا ،بیا ټینګار کوه چې سباته دمیلمانو ښه قدر او عزت وکړي، او په اخلي پخلی باندې ښه خواري وکړي،دخیبر په دې دومر ټینګار باندې زه لړه شکمنه غوندې شوم، ماویل هسې نه چې خیبر ، اودخیبرمورو پلاردکوم بل چاسره خبره نه وي کړي،ځکه دا ځومیاشتې مې له جمشید سره په تلیفون خبرې نه وې کړې،تلیفون رانه خیبر اخستی وو ،ځکه خیبر چې په لومړی ورځ باندې راوستم ماته یي دا خبره وکړه چې تلیفون اوس نه درکوم،هسې نه چې زما او دجمشید جوړه خبره ورانه کړې،شیطان راته بیلابیلې خبرې کولې، کله به یي راته ویل کیدای شي دا د دوی کوم چل وي،هسې نه چې جمشید مې له لاسه ووځي،کله به یي راته ویل چې خیبر خو ځکه کورته راوستې دوی خپل مقصد لري،په تا یي کوم زړه نه دی بد شوی، دورینداري او ورور په چلند کې چې بدلون راغلی دوی ضرور کو م بل پرو ګرام لري،خو چې کله به مې دخیبر معصو مې څیرې ته وکتل نو بیابه مې له ځانه سره وویل: نه داسې نه شي کیدای خیبر له

ماسره ځومره مرسته او همکاري وکړه، خیبر به اوس له ماسره دا سې دوکه ځنګه وکړي، هیڅ نه پوهیدم نن شپه راته دکال غونډې اوږده شوه، دما خوستن نهنیمې بجې به وې چې په ډاراو ویره دخیبر کوټې په لوري روانه شوم، کله چې دخیبر کوټې ته ورسیدم، دروازه بنده وه ورو غونډې مې دوه ټکه دروازې ته ورکړل ښه وه خیبر لا ویده نه وو، دروازه یې خلاصه کړه راته یې وویل بریښنا څه خبره ده خیر خوبه وي؟ ما ورته په بې جرآتی سره وویل: که... که تلیفون یو... یوځل راکړې چې... چې جم... جمشید ته پرې یوځل تلیفون وکړم، خیبر له ځانه سره غلي وخندل دالماری په لوري لاړو تلیفون یې راو خیست رایی کړ راته یې وویل ها واخله خو ګوره په ارام سره خبرې وکړه چې مور او پلارمې درپسې خبر نه شي، خیبر دروازه پورې کړه زه په چابکو. چابکو قدمونو کوټې ته راغلم دراوزه مې پورې کړه، په خپل خیال په خپل فکر اوپه خپل ځان مې لعنت وواېه ځکه خیبر له ما سره څه ډول سلوک کوي او ما وربانديې څه ډول فکر کوه، په هر حال جمشید ته مې تلیفون وکړ دڅو زنګونو له تیریدو وروسته اړیکه پرې شو، جمشید تلیفون پورته نه کړ، دا ځل جمشید تلیفون پورته کړ په خوبولي غږ یې وویل: آ... آلو، آلو زه غلي وم دخبرو کولو جرات مې ونه کړ، جمشید یوځل بیا غږ وکړ: آلو، آلو خبرې ولې نه کوې څوک یې چې په دې نیمه شپه دې تلیفون کړی، زه پوه شوم چې جمشید په خوب کې دی هسې نه چې اړیکه پرې کړي او تلیفون یو له مخې پسې بند نه کړي، نو غږ مې پرې وکړ، آلو جمشیده زه یم بریښنا جمشید وویل ښه شیطانې څنګه یې وخت دڅنکه تیریږي په خدای ډیره مې یادیږې، ډیردرپسې خفه شوی یم، ماوویل دالله فضل دی جمشیده ښه یم وخت ښه تیریږي

خو زه نن ډیره وویریدم،جمشیدوویل ولې څه خبره له څه وویریدې؟ګرانه په دې وویریدم ما ویل هسې نه خیبر او د خیبر مورو پلار له کوم بل چا سره خبره نه وي کړي اوته رانه جدا نه شې،جمشید وویل ګوره ګرانې ګمان خرام دی دا ډول ګمان په چا مه کوه خیبر ځومره صادق او په زړه سپین ځوان دی. هو ولا نن مې چې د تلیفون غوښتنه ورنه وکړه چې څه یي ونه ویل نو وروسته زه هم پښیمانه شوم، جمشید وویل ته په خپله لیونۍ یې په بل چا هم لیوني فکرونه کوې،ښه ځه دا خبره پریده سبا به زما مور او پلار درځي ستا د سمال به روړي زه خو ډیر خوشال یم په جامو کې نه ځایږم،ستا ښکلا ستا ښکلي ځوانۍ ستا دنګې نرۍ ونې ستا زرکو ستر ګو ستا ګلابي شونډو ستا ګل، ګل اننګو خوزه په غم واړولم خو چې نور په غم وانه ړوې،ماوخندل او د جمشید دې خبرې سره هغه سندره رایاد شوه،

زماړندې شوې نورې سترګې په نم وانه ړوې
بل څوک زما په شان جانانه په غم وانه ړوې
ناصحه هسې دزړه مه چاوه کرار به نه شم
دمحبت نه خوبه ما په قسم وانه ړوې
بل څوک زما په شان جانانه په غم وانه ړوې

کله مې چې دا بیتونه جمشید ته وویل په خندایي را غبرګه کړه ،څنګه بریښنا جانې لکه چې شاعره هم شوې،ماورته وویل شاعره نه یم خو ستا خبرې سره داسندره راپه یاد شوه،چې ماته ډیره خوند راکوي ډیره یې اورم،له جمشید سره به مې ساعت یا څه کم ساعت خبرې کړې وې چې اړیکه مې پرې کړه بې غمه په کټ کې پریوتم.

## نهم څپرکی

سهار وختي چې له خوبه راپاڅیدم دلمانځه او چای څکلو وروسته مو داخلي پخلي تیاری شروع کړ،دوریندارې خویندې سهار وختي راغلي وې، او ځینې نور نیژدې خپلوان هم چې له ما او ورینداریې سره یې دکور په کارنو کې زیاته مرسته وو کړه،زه لا په اخلي پخلي بو خته وم چې وریندار او دوریندارې خویندې راغلې زه یې له لاسه ونیوم راته یې وویل ژر ژر کوه ځان دسینګار کړه، هغوی په لاره کې دي رانیژدې شوي دي ته تر اوسه په نغري کې څه کوې؟زه یې کوټې ته بوتلم جامې مې بدلې کړې، وریندارې مې وویل زه ځم نغري ته تاسو ترهغې بریښنا دبریښنا په خیر سینګار کړئ،چې غوښتونکې یې واپس همداسې لاړ نه شي، دوریندارې خویندې چې ډیرې مینه ناکې نجلۍ وې په ما یې ټوکې هم کولې او زما سینګارهم، کله چې زما له سینګارنه وزګارې شوې زه یې مخامخ اینې ته ودرولم،دوریندارې خورقصیدې راته وویل: ماشاالله له نظره مه شې داسې لیونیان به څوک وي چې تا ووینې او دنا ځواب درکړي، په خندایې پسې زیاته کړه، په خدای چې زه هلک که ته رانه کوم بل چا کړي وای،د قصیدې دې خبرې سره موږ دریو واړو وخندل، خو غزلې قصیدې ته وویل:څه،څه چې بیا دا ډول خبرې ونه کړې، که زه هلک وای بریښنا به زما وای، زمادې خبرې سره یوځل بیاموږ درې واړو وخندل، قصیدې وویل: بریښنا به هم دژوند ملګری پیدا کړي،اوبیابه یې.....قصیدې خبره همداسې نیمګړې پریښوده ځکه چې کوټې ته وراینده راغله،قصیدې ته یې وویل راځئ بریښنا هم درسره راولئ

چې د ډوډۍ خوړلونه مخکې دوی باید بریښنایوځل ووینې ورینداره مخکې شوه زما ښي لوري ته غزله او کیڼ لورې ته قصیده روانه وه، چې د پنډو ښځو منځ کې یې کینولم ما له شرمه چاته لاس هم نه شو ورکولای، څومره ښځې چې راغلي وې ټولې په موږ دریو واړو راټولې وې، دجمشید مور غږ وکړ چې کتلوته یې ضرورت نه شته ځکه بریښنا ما څو ، څوځلې لیدلي ده، بس یواځې دګوړې ماتول او د دسمالونو ویشول پاتې دي، دې خبرې سره یوې نجلۍ دموټر په لورې منډه واخیسته چې په انګړ کې ولاړوو دموټرنه یې ټیپ راښکته کړ کله چې دهمزولو ټولي ته را ورسیده ټیپ کې یې هغه سندره چلان کړه چې:

څه جادو دکړی دی زړه د رانه وړی دی
زه دلیونۍ کړمه سور قمیس دکړی دی
جانانه توري سترګې تورې که بیا
داتورې زلفې دسمسورې که بیا
دمینې اور راباندې پورې که بیا
ښه مې که ستې، ستې ما خون دربښلی دی
ټولو همزولو کې حسینه یې ته
لکه سپوږمۍ په شانتې سپینه یې ته
ښوله وفایې مینه مینه ته
ستانازو اده باندې مازړګی بیللی دی
ښه مې که ستې، ستې ما خون دربښلی دی

دې سندرې ځینې نجونې ګډا ته پورته شوې او ځینو ورسره چک چکې وهلې، کله چې داسندره پای ته ورسیده یوې نجلۍ دریا

رواخیسته ټولې نجلۍ اتڼ ته پورته شوې، هرې نجلۍ به په خپل وار سره یو ، یو ټکی په اتڼ کې اچوه لومړۍ پیل دریا وا هونکې نجلۍ په ټپو سره وکړ:

لستوڼي وباسئ ګډ یږئ
دغریبانو ښادي کله، کله وینه
باباته لاړې سوال دوکړ
په زړه دزه وم که دنور کول سوالونه
مرور مه ځه بیرته راشه
که ملامته وم ناغه به درکومه
پیزوان مې ستا په بریت کې بند شو
تر دروازې پورې بندي درسره تلمه
په سترګو ړوند شې راته ګوره
دچمچه مار په شان غړۍ درپسې وړمه

کله چې نجونې په اتڼ او په ګډه ستړې شوې ګډه یې بس کړه، د ډوډۍ تیاری ونیول شو دراغلو میلمانو ښه قدر او عزت کیده له ډوډۍ خوړلو وروسته دجمشید پلار او ځینې نور خپلوان کورته راغلل، له کیناستو سره سم ورته خیبر دسمال راوړد جمشید پلارمخې ته یې کیښود او په خپلو کې یې یو او بل ته مبارکي ورکړه دجمشید پلار چې دسمال پورته کړ دې دسمال په ځای یې څو پیسې کیښودې ،دې دسماله په یوه کونج باندې دبیري شنې پاڼې ټومبل شوي وې،دا په دې معنا چې شنه شي یعنې دزامنو مور شي، په بل کونج یې څو پچې ټومبلې وې په دمانا چې مالداره شي،په بل کونج یې دوریجو دانې ټومبلې وې چې وړینه شي،په بل کونج کې په یوه ګنډه کې مالګه تړل

شوي وه چې یو تر بل نمک شي دا په دې مانا چې دچا دکور مالګه چې وخوري یا یي وڅکي نو دهغه کورولا سره به بدنه کوي،او دسمال په منځ کې یوه افغانۍ دسپینو زرو ګنډلي وه او همداشان په دسمال کې یوه خلته خوارې،یوه آینه،یوه شیشه عطر،یو صابون او پینځه هګۍ ایښودل شوي وې، دجمشید پلار له پاڅیدو سره ټول پورته شول، شورماشور شو له چانه چپل ورک ول،له چانه بکرې ورکې وې، خو ټول زیات خوشال وو ،دسمال یې یو وړلړه شیبه لا نه وه تیره شوي چې د ډزو اواز مې تر غوږو شو

،زه ژر کوټې ته لاړم وویریدم ماویل هسې نه چې کوم مشکل پیدا شوي وي، ژر مې جمشیدته تلیفون وکړ،په ورخطایي سره مې ترې وپوښتل،جمشیده ته...ته چرته یې ؟ دا...دا ډزې دڅه دي؟جمشید وخندل ای ساده زما انډیوالان او دکلی ځوانان دي راغلي دي چې له مورې سره خوشالي یو ځای ولمانځي، ته صبر بریښنا اړیکه مه پرې کوه لین کې اوسه، زه ژر ورځم چې هغوی ته دسمالونه ورکړم،ځکه دا زمونږ رواج دی چې څوک ډزې درته وکړي هغوی ته باید چې دسمال ورکړې، که وریی نه کړې بیا درپسې خاندي، دجمشید خبرې مې اوریدې چې په یو چا باندې یې غږ وکړ،ژرکوه دسمالونه را واخله دباندې ځوانان راغلی چې هغوی ته یې ورکړو ،جمشید چې دباندې ځوانانو ته دسمالونه ورکول ځوانان ټول ډیر خوشال ول،جمشید ته یې مبارکی ورکوله،جمشید چې کله کورته داخیل شو ما تلیفون همغسې غوږ ته نیولی وو ، هرڅه مې اوریدل،چې جمشید غږ کړ آلو بریښنا اورې؟ماوویل هو اورم،ښه وښه انتظارمې ډیر درباندې وکړ،خوزه درسره نور لین کې نه شم پاتې کیدای،ځکه چې میلمانه

زیات دي زه باید له هغوی سره په حجره کې کینم، ماوویل سمه ده ورځه ورشه له همزولو سره دکینه،زه به هم له وریندارې سره دکور دلوخو وینځلو اورا ټولولو کې مرسته وکړم،جمشید وویل بس یواځې دا سندره خو واره چې په انګړ کې یې نجونې غږوې او ګډا ورته کوې سندره لږه واوره کله چې ستړې شوې اړیکه دپرې کړه زه به ستا لپاره یوه شیبه تم شم چې سندره واورې زه به بیاحجرې ته لاړ شم،جمشید چې انګړته ورنیژدې شو داسندره مې واوریده،
د سمال یې راوړ څنډې پې پورې
پې بوره مه شې دهلک مورې
دنجونو شور،دنجونو خانداګانې،دنجونود چک، چکو اوازونه مې هم اوریدل،زه زیاته خوشاله وم نه مې غوښتل چې اړیکه پرې کړم له یوې خوا مې په تلیفون کې پیسې نه وې اوله بلې خوا جمشید هم حجرې ته ، ته ځکه مې اړیکه مې پرې کړه.

## لسم څپركى

دسهار اته بجې وې زه او ورينداره دكورپه كارونو بوختې وو چې خيبر دمورله كوټې را ووته رباندې غږ يې: بريښنا يوځل دلته راشه كار درسره لرم، كله چې ورغلم خيبر راته وويل كينه دلته چې يو څو خبرې درسره شريكې كړم، دجمشيد پلار دولور پيسې ټولې راكړې دي، اوستا هم ټول كالى اوسامان پوره شوى دى، درې څلور ورځې وروسته شايد ستا نكريزوشپه شي، ايا ته په دې باندې راضي يې؟زه غلې وم هيڅ مې ورته نه شول ويلى، خيبر يو ځل بياو ويل بريښنا هيله كوم ځواب راكه ايا ته راضي يې يانه؟زما په ستركو كې اوښكې ډنډ ولاړې وې ، مور مې ستركو ، ستركو ستركو ته كيده ما ويل كه مور مې اوس ژوندى واى څومره به خوشاله واى خو افسوس چې مور مې ارمانجنه ګورته لاړه،دمور مې څومره ارمان وو چې زما واده په خپلو ستركو وويني، په ډك زړه مې خيبرته ځواب وركړ هو زه رضا يم، جمشيد بياوويل كوم شيان چې تاته اخيستل شوي كوم شى خو به پكې كم نه وي؟چې درته وايي خلم ما يواځې دسر په خوزولو ځواب وركړ چې نه، خيبر پورته شوو راته يي وويل:بريښنا تر څو چې زه ژوندى وم هيڅ كوم كار ته خفه نه شې،زه به تر اخرې سلګى ستا په خدمت كې وم،خيبر په تلو كې يوځل بياوويل بريښناكه څه ته د ضرورت شو ماته تليفون وكړه زه يوځل بازار ته ځم سودا اخلم بيرته ژر راځم،ما ورته وويل سمه ده په مخه دښه،خيبر چې لاړو زه يوځل بيا سوچونو او فكرونو په مخه كړم، دمورهره خبره به مې په ذهن كې تا و راتاو شوه زړه مې راډك شو غوښتل مې چې دمور قبر ته لاړه شم

خو را یاد شول چې خیبر بازار ته لاړو ،ورینداربه مې پرې نه ږدي خیبر ته مې تلیفون وکړ ،که ډیر لرې نه یې تللی یو ځل را ستون شه،ما یو ځل دمور قبر ته بو ځه،خیبر وویل دادی لیونۍ درغلم ،بو به دځم،لږه شیبه وروسته خیبر راغی زه سیده دمور قبر ته ورسولم ، کله مې چې په مور دلۍ خاورې ولیدې په ژړا شوم، مورې ولې دې دومره ژر یواځې پریښودم، مورې ستا دغیږې په شان نرم ګرم ځای به بیا زه په خپل ژوند کې هم پیدا نه کړم، نه به بیا ستا دغیږې بوی زما تر سپوږمو را ورسیږي،مورې کوم ارمان چې تا درلوده هغه پوره شو خو ستا په نه شتون کې،مورې اوس که د دنیا ټولې خوشالی ماته راکړی زه به یې څه کړم،خدایه زه دولې دومره بد بخته پیدا کړم؟ولې؟ ولې؟په څه ګناه؟ په ما کې دڅه لیدلي وو چې دبد بختیو ډکې دنیا ته د راوستم بیا د یواځې پریښودم،تا اوبابا دواړو زه یواځې پریښودم ،ولې؟ اخیر ولې؟زه به موهم له ځانه سره بیولي وای، خیبر په اوږه لاس راکیښوده، راته یې وویل بریښنا بس که نوره مه ژاړه، کله مې چې خیبرته سترګې ورپورته کړې، دخیبر تورې سترګې تکې سرې اوښتې وې، سترګو کې یې اوښکې ډنډ ولاړې وې زما زړه نور هم را ډک شو ، دپلار قبرته ورنیژدې شوم، په سلګو مې وویل پلاره !پلاره تاته وایم مورکه یواځې پریښودم رانه لاړه تا ولې یواځې پریښودم؟ تا ولې زه له ځانه سره نه بیولم، پلاره زه پوی شوم چې زه په تانه وم ګرانه پلاره که درباندې ګرانه وی زه به دولې دې دنیا کې یواځې پریښودم،پلاره تا ولې زه دځناورو په وړاندې یواځې پریښودم؟ولې اخیر ولې پلاره ولې...نورنو په ځان نه یم پوی شوي،دمازدیګر وخت وو چې سترګې مې پرانیستې زه په هدیره کې نه وم په کوم بل ځای

کې وم دیوال ته ښه زیره شوم سترګې مې سره وومښلې،چې له سترګونه مې سوک لرې کړ مخامخ مې سترګې په خیبر ولګیدې،چې په یو کټ باندې ناست وو، سترګې مې بیرته پټې کړې په ذهن کې مې زیارت ته تګ هلته زما ژړا دخیبر معصومه څیره ایخوا دې خوا کیدل پوي شوم چې په ما باندې په زیارت کې څه شوي دي،دا ځل مې چې سترګې پرانیستې خیبر زما سرته ولاړ وو زه وشرمیدم سمد ستي پاڅیدم په سر مې ټیکری سم کړ،خیبر وویل څنګه یې بریښنا اوس خو به درباندې سرنه ګرځي؟ما ورته په ارامه وویل نه خیبره اوس ښه یم،خیبر دواه روا خیسته دواه یې راکړه له دواه خوړلو وروسته خیبر دباندې لاړ وریندارمې کوټې ته راغله زما دصحت پوښتنه یې وکړه،ما هم ورته ډاډګیرنه ورکړه،وریندارې راته وویل ګوره بریښنا دومره زړه خوراک ته ضرورت نه شته ولې دومره زړه خورې؟سبا یابله ورځ دې دنکریزو ورځ ده ښه خوره ښه ښښه ځکه ته د دې رنګ ته وګوره چې تک زیړ او ښتی دی لکه کورکمان سبا به نجوني وایي چې په کور کې یې نهاره کینولي وه څه یې ورکول نه،او که مونځ دنه وي کړی پورته شه لمونځ وکړه لږ په کورکې قدم وواهه چې فکر دبدل شي،ما ورته وویل سمه ده وریندارې،زه پاڅیدم له اودسه او لمانځه وروسته نغري ته لاړم،ما ویل چې لږ کار وکړم خو وریندارې منع کړم،زه هم ډیره حیرانه شوم،هغه وریندا ره چې په ما یې ظلم کوه هغه وریندا ره چې له مانه یوه ډوډۍ سوي وه دهغې په وجه یې زما لاس په سره تبۍ ونیوه، نن هغه په خپله کار کوي ما کار کولو ته نه پریدي راته ویې چې ارام وکړه یا په کور کې ایخوا دې خوا قدم وواهه چې فکر دبدل شي،دا ټول دخیبر برکت وو چې دوریندارې چلند له ما سره

ښه شوی وو ،خو دوصال ورور مې ګیله کیده ځکه اوس یې ډیر غرض راباندې نه کاوه، کله کله به راغی پوښتنه به یې رانه وکړه چې څه ته به ضرورت نه لرې، خو تر نن ورځې پورې مې ترې نه یوه خوږه خبره هم وانه وریده، چې خورې که مور او پلار دنه شته ته مه خفه کیږه زه به دومره مینه درکړم چې د مور او پلار مینه به دهیره شي، خونه ورونو ته مې خدای دا نه وو ورښودلي، خو بیا هم دوصال ورور نه په دې راضي وم چې په کور کې خو یی داوسیدو ځای راکړ دخیبر خبره خو یي ومنله کني خدای خبر زه به اوس په کومو درو سر وای.

## یولسم څپرکی

سهار چې له خوبه راپورته شوم ورينداري مې دکور زياتره کارونه کړي وو، دانګړ په صفايي باندې بوخته وه ورته مې وويل وريندارې نن ډيره په وخت پورته شوي يي او دکورصفايي د هم ډيره کړي ده، نن بيا څوک ميلمانه دي که ولې دومره مصروف يي؟وريندارمې وخندل په خندا يي وويل: بريښنابيګاه ته ستا دنکريزو شپه ده،له وريندارې وشرميدم سترګې مې ښکته کړې په شرميدلو قدمونو روانه شوم بيرته کوټې ته لاړم،ژرمې جمشيد ته تليفون وکړ:آلو بريښنا څنګه يې؟ ماوويل: زه ښه يم زه چې ستا پوښتنه ونه کړم په خدای که ته مې پوښتنه وکړې، جمشيد ځواب په بيت سره راکړ:

لکه باران مې په زړه خوږ خوږ وريدلې راغلې

عمر د ډير دی همدا وس مې يادولې راغلې

ماوويل:نه،نه،نه يي منم ته ماته دروغ وايي هر وخت درته زه تليفون کوم، کومه ورځ تاراته تليفون کړی؟ولې دزه خبره نه کړم چې نن مور هلته درځو نن د دنکريزو شپه ده، جمشيد وخندل او وه يي ويل:داځکه چې ما خيبر خبر کړی دی هغه ته مې ويلي دي ما ويل ته چې يو ناڅه خبره شي خوشالي به ديو په دوه شي،ښه سمه ده بريښنا زه اوس مصروف يم يو دوه موټرې را غواړم چې دکلي نجونې او ځوانان بيګاه ته هلته درځي پکې دا وس له پاره د په خدای سپارم دالله پامان،جمشيد اړيکه پرې کړه زه يو ځل بيا خيالونو اوسوچونو په مخه کړم،مور اوپلار مې سترګو ته نيغ ودريدل ما ويل کاش چې اوس مې مور اوپلار ژوندي وای، کاش چې نن يي زما دنکريزو په

شپه کې برخه اخیستې وای،زه لا په همدې فکرونو کې وم چې دفکر لړۍ ته مې خیبر دپای ټکی کیښود زما دفکر لړۍ یې وشلوله،راته یې وویل بریښنا دڅه وخته درته له برنډې نه غږ کوم خوته ځواب نه راکوې نه راته غږ کوې،ولې بیا په کومو فکرونو کې غرقه تللې یې، الله ژرکوه پاڅه چې میلمانه را روان دي مور مې دکور هرې برخې ته ښه توجه کړې خو حجره لا همغسې خیرنه ګډه وډه پراته ده،زه ژر پاڅیدم جارو مې رواخیسته دحجرې په صفایی مې پیل وکړ حجره مې ډیره په بیړه بیړه پاکه کړه ما ویل هسې نه چې زه په صفایي بوخته وم دوی راورسیږي، همداسې وشول څنګه مې چې حجره صفا کړه زه کورته روانه شوم چې دموټرو شور مې ترغوږو شو ،په چټکو قدمونو کورته لاړم،وریندار مې په نغري کې په کار کولو بوخته وه زه هم ورغلم ورته مې وویل: وریندارې که کوم کار پاتې وي امر کوه چې وه یې کړم وریندارې مې وویل نه بریښنا غزلې او قصیدې اوس راته تلیفون کړی وو چې مور در روان یو لاره کې یو ته لاړه شه دځان غم دوکړه زه هم لاړم ځان مې ښه سینګار کړ جامې مې بدلې کړې، دغرمې یولس بجې کیدونکې وې چې دنجونو شور مې تر غوږو شو کله مې چې له کړکی دباندې وکتل ډله نجوني را رواني وې تمبل یې واهه ښې په شور چک چکو او خنداګانو سره کورته راغلې، وریندار مې مخې ته ورغله له هغوی سره یې سترې مشي وکړه په راغلو نجونو کې مې په غزلې او قصیدې هم سترګې ولګیدې، ځینې نجونې په انګړ کې کیناستې او ځینې ما پسې کوټې ته راغلې، چابه راباندې ټوکې کولې چابه ویل چې نن د وروستی شپه ده دې کور کې که خیر وي سبابه، به دې له دې کور نه په سره جوړه کې وړو، زه ټیټ

سرغلي ناسته وم دوی چې کله ستړي شوې دباندې لاړې خو ورسره جوختې نورې نجونې کوټې ته راغلې خو بخت مې ښه وو ځکه چې قصیده راغله ورته يې وویل چې ډوډۍ تیاره ده ډوډۍ وخورئ بیا چې څه کوئ،راغلي نجونه په ډلیز ډول بیرته دباندې لاړې،ما اوغزلی په کوټه کې یوځای ډوډۍ وخوړه،غزلې وویل بریښنا خورې دجمشید سره په کوژده او واده کولو زیاته خوشاله ښکارې، ماورته وویل: ولې ما داسې کوم کار کړی چې تاته پرې خوشاله ښکاره شوي یم؟غزلې وویل بریښنا دنکریزو په شپه نجونې ډیرې خفه وې په زړو جامو کې ناسته وې خپل کور ترې پاتې کیږي دبل کور اینګور کیږي،خو چې موږ تاته ګورو ته دنکریزو په شپه داسې ښکارې لکه ناوي،ما ورته وویل زه له دې نه څه خبره وم ماته خو وریندارې وویل لاړه شه جامې دبدلې کړه او ځان دسینګار کړه ماخوځکه ځان سینګار کړ،غزلې وویل: بریښنا !ته زما په خبرو خفه شوې؟ مه خو هسې ټوکه درسره وکړه،

نه غزلې ولې به دومره ژر خفه کیږم،زه او غزله د ډودۍ په خوراک بوختې وو چې وریندارې راغږ کړ: غزلې !وه غزلې !دلته راووځه چې دا لوخي سره ټول کړو، د ډوډۍ خوړلواولمانځه کولو وروسته نجونې کوټې ته راغلې له لاسه يې ونیولم دنجونو منځ کې يې کینولم لومړی يې ښې ډیرې ټوکې راباندې وکړې نوره يې ژړا ته نیژدې کړې وم وروسته يې سندرې ویل پیل کړل، دماسپیښین نه نیولې دمازدیګر تر لمانځوپورې او له هغې نه ور هاخوا يې بیا تر ماښام پورې سندرې او ګډاګانې وکړې،دما خوستن د ډوډۍ خوړلونه وروسته یوه پیغله چې الله ورته ډیره ښکلا ورکړې وه راغله زه يې له

لاسه ونیوم راته یي وویل: همدومره بس وه چې په ارامه کیناستې، راځه دباندې براندې ته چې ټولې نجونې ستا په انتظار دي چې نکریزي درته پورې کړي، دپیغلونجونو دټولي په منځ کې یي کینولم،لومړۍ ګوته راته همدې نجلۍ سره کړه چې له کوټې نه یي را ویستم،هرې پېغلې نجلۍ دا هڅه کوله چې ګوتې راته وتړي ځینې نجونې ناستې وې ګوتې یي تړلې او ځینو نجونو په ګډه سره دا سندره وایله:

شپه ده د نکریزو جینکۍ تمبل وهینه
خلک دهر خوانه په واده راغلي دینه
نن په دې نکریزو کې د مینې شمعې بلې دي
پیغلې په واده باندې راغلي ډلې ډلې دي
همځولي خوشالیږي نن په ضد ګډا کوینه
خلک دهر خوانه په واده راغلي دینه

شپه به نیمایي ته رسیدلي وي چې نجوني به  یوه، یوه له کوټې نه واتله ،ځکه چې ډیرې ستړي شوي وې،ځان ته به یي دبسترې غم کوه چې ویده شي،ټولې نجوني ځملاستې ما سره کوټه کې غزله ،قصیده او څو نورې نجونې پاتې وې مورږ ته هم خوبونه راغلي وو ځایونه موسم کړل چې ویده شو.

## دوولسم څپرکی

مابیګاه شپه هیڅ خوب ونه کړ ټوله شپه مې له جمشید سره په خیالونو او فکرونو کې تیره کړه له جمشید سره د مینې په ټال زنګیدم ،نن سهار سر راباندې ډیر درون وو ځمکه رانه تاویده په ځان نه پوهیدم چې څه وکړم، خوښه وه غزله راغله راته یې وویل ولې داسې خفه او غلې ولاړه یې، ، ماورته وویل:هسې غزلې لږه ښه نه یم سر مې درون دی ځمکه رانه ګرځي،غزلې راته وویل: ورشه ژر،ژر ولمبه اوبه مې درته تیارې کړې دي روغه جوړه به شې،زه وشرمیدم په بنده،بنده ژبه مې وویل:غزلې زه...زه خونه...نه غواړم چې ولمبم،ولې نه غواړې ژر کوه ستا جوړول بیا ډیر وخت نیسي، مابیا وویل:نه...نه...زه به هیڅ کله هم ونه لمبم،غزلې ته غوسه ورغله له لاسه یې ونیوم راته یې وویل ژر کوه چې نا وخته کیږي، دغزلې خبره مې وومنله ماویل هسې نه چې اوس رانه غزله خفه شي،ژر،ژر مې په سر اوبه راتیرې کړې د سر ویښته مې لا وچ شوی نه وو چې غزله راغله سر یې راته ګمنځ کړ، غزلې راته وویل ګوره نن به ته دبل کورته ځې هلته به ته داسې خورې، داسې ښبې،داسې به کوې ،داسې به نه کوې،نوره له مانه ته خپله ښه پوهیږې،موږ لا خبرې کولې چې یوه په عمر پاخه یامشره ښځه راغله راته یې وویل لورې راځه ،له لاسه یې ونیوم په انګړ کې چې ډله ښځې نا ستې وې دهغوی په منځ کې یې کینولم،ښځو بیا سندرې شروع کړې یوې ښځې ټیکری رانه لرې کړ، ګمنځ یې روا خیسته چې سر راته کوڅې کړي اول خومې زړه ډیر سره

ټینګ کړ خو چې کله نجونو له دریاسره یوځای داسندره شروع کړه چې:

دوه ، دوه تاره اخله سر يي ورو ،ورو بيلوه

په نخرو يي بيلوه

ماته ژړا راغله له ډيرې هڅې سره،سره مې بیاهم ژړا تم نه کړه،زما له سينګار نه وروسته خيبر او قصيدې دلاسه ونيوم په ګلپوش موټرکې يي کينولم دموټر په مخ سيت کې خيبر ماسره شاته دجمشيد مور او وريندار ه راسره کيناستې کله چې موټر دکورنه دباندې شو، دوه دقيقې مزل به مو لا نه وی کړی چې په کوڅه کې ډله ځوانان ولاړ دي، کوڅه کې يي کاڼي اچولي لاره يي بنده کړي وه دکوڅې بل سر کې يي يوه هګۍ ځوړند کړي وه، ځوانانو ويل چې تر څو مودا هګۍ ويشتلی نه وي تاسو ناوی نه شی وړی،ټوله کوڅه اوس واده ته راغلي وړو او زړو په سر اخيستې وه،له هر موټر نه خلک را کوز شوي ول،دا په موږ کې رواج وو که هګۍ به د وويشته ناوي به د همداسې وړه که وه به دنه ويشته نو ځوانانو به چې د څومره پيسو غوښتنه وکړه ورکولې به دې،درې څلورو ځوانانو هڅه وکړه چې هګۍ وولي خو ونه توانيدل خو په ورستيو کې يو ځوان چې دنګه نری ونه يی وه ټوپک يي له بل ځوان نه واخيسته نخه يي پرې برا بره کړه په لومړي ډز سره وتوانيده هګۍ يي وويشته،ټولو ځوانانو ورته چک چکې ووهلې،لاره يي خلاصه کړه خو خيبربياهم ځوانانو ته دثوبات لپاره پيسې ورکړې، ټول خلک بيرته موټرو ته پورته شول روان شوو ،کله چې له دې کوڅې نه ورتيرشوو پراخ ميدان وو يعنې لاره ازاده وه هر موټروان په دې هڅه کې وو چې دبل نه مخکې شي،په

ټوله لاره کې د موټروانانو همدا حال وو کله به یو ګاډی مخکې شو کله بل، کله چې د جمشید دوی کورته ورسیدو زه یې له موټرنه ښکته کړم دکورنه بهر دټوپکو دډزو اوازونه پورته شول هر لور ته دټوپکو ډزې کیدې له مانه نجونې را تاو شوې یوه دایره یې جوړه کړه ځینې راسره خوا کې کیناستې او نورې ټولې نجونې چا چې اتڼ زده وه داتڼ په دایره کې داخلې شوې،له اتڼ سره یوځای داسندره وایله چې:

ودریږه سرتوره چې دټوله ووینم جلۍ
نه د پیژنم جلۍ
ودریږه سرتوره دا جلکۍ دغره له سره ده
تکه شنه کوتره ده
دام به ورته کیدم بیا به لوبې پرې کوم جلۍ
نه د پیژنم جلۍ
ودریږه سرتوره د جلکۍ زلفې ماران دي نا
واړه ښاماران دي نا
راشه ما پرې وخوره زه اوده درته لرم جلۍ
نه د پیژنم جلۍ

کله چې دنجونو دې ډلې اتڼ او سندره بس کړه، بیابله ډله نجوني اتڼ ته پورته شوې

له اتن سره یې سمه دا سندره پیل کړه:
اتڼ دی ګډا ده د پیغلو شور ماشور دی
تمبلونه غرېږي واده زما دورور دی
اخ شنا ننه مبارک شه مبارک

کله چې جلۍ ښې سترې شوې کیناستې اتڼ یې بس کړخو زما غوږونه دماشومانو او ښځوشور ماشور سره، سره بیاهم دسندرو او ډول اواز راته بیا ورسته پوی شوم چې دباندې ځوانان هم په اتڼ نڅا او سندرو بوخت دي، ماشومانو په کورکې کله یوې خوا منډې وهلې کله بل خوا ،زه هم نوره په ناستې سترې شوي وم، دجمشیدمور او ورینداري لاس راکړ کوټې ته یې بوتلم،دغرمې ډوډۍ او دماسپیښین لمانځه نه وروسته په کورکې شور ماشور داول نه کم شوی وو دښځو او سړو ګڼه ګوڼه هم کمه وه،کلیوالو نجونو یوځل بیا سندرې ویل پیل کړل ترماخوستنه یې اتڼ سندرې او ګډا کوله.
لنډه ده چې دنکاخ وخت را ورسیده په نورو قومونو کې دا رواج دی چې د واده په دریمه یا په څلورمه نکاخ ترې،خو زموږ په قوم کې نکاخ همغه دواده په شپه ترل کیږي،کله چې دکلي ملا امام او دکلي څو نورو کسانو د ډوډۍ وار تیر شو، نو ملا امام یو کس زما دخپلوانو نه اوبل دجمشید دوی خپلوانو نه کورته را ولیږل،له مانه یې دنکاخ دپلار پوښتنه وکړه چې دنکاخ پلار دڅوک دی؟زه غلي وم څه مې ونه ویل هغوی یوځل بیاوویل: دنکاخ پلار دڅوک دی؟زه بیاهم غلي وم دریم ځل یې بیا راته وویل: دنکاخ پلار دڅوک دی؟کله یې چې له مانه ځواب وانه وریده دواړه پورته شول دې کې ځینوشوخو نجونو وخندل، زه اول پوی نه شوم چې ولې یې وخندل، خوچې راغلوځوانانو ته مې سترګې ورپورته کړې دیو ځوان په لمنه پسې یوه نرۍ خو اوږده رنجه ترل شوي وه کله چې دنجونو خندا نوره هم تیزه شوه، دواړو چې شاته مخ را واړوه په لمن پسې یې اوږده رنجه ولیده وشرمیدل زر له کوټې ووتل،څو دقیقې لا نه وې تیرې چې بیرته

بیا راغلل،خومابیاهم دنکاخ پلار انتخاب نه کړ،په دریم ځل چې راغلل ټینګاراو غوسه یې زیاته شوه ما ورته دنکاخ پلار په ګوته کړ ټولو نجونو ورته مبارکي ورکړه،دواړه بیا ملا امام ته ورغلل،داچې زه هلته موجوده نه وم نوره به درته دجمشید دخولې خبره وکړم چې له جمشیدنه ماپوښتنه وکړه چې زما دنکاخ پلار چې درغلو ملا امام او تا څه ورته وویل؟جمشید وویل کله چې ستادنکاخ پلار راغی ملا ترې پوښتنه وکړه چې له کوم ځای نه راغلی؟دواړو ځوانانو په غبرګو اوازونو سره وویل:چې دښار عدالت نه،ملا ورته وویل څه مو را وړل؟دوی وایي شرعي وکالت،ملاصاحب بیا ورغبرګه کړه،دچا په نامه؟ځوانانوبیاپه یوه اواز وویل دجمشیدخان په نامه،ملاصاحب دنکاخ رسمي مراسم پیل کړل خطبه یې وویله،دنکاخ پلارته یې مخ رواړوه بریښنا دامید لور چې په دې نامه بله لور نه لري تا جمشیددایمل زوی ته په شرعي نکاخ ورکړې ده ور دکړه؟دنکاح پلار وویل هو مابریښنا دامید لور جمشید دایمل زوی ته په شرعي نکاح ورکړې وه ور مې کړه،داسوال او ځواب درې ځلې تکرارشو، جمشیدراته وویل چې بیا ملا صاحب ماته مخ را واړوه راته یې وویل:تابریښنا دامید لور چې په دې نامه بله لور نه لري په شرعي نکاح تا قبوله کړې وه قبوله دکړه، ماورته وویل هو ماقبوله کړې وه قبوله مې کړه،له شیرنی ویشلو او دعا کولو وروسته ملا صاحب خپل کورته لاړو نجونې هم ستړې شوي وې،یوه،یوه به له کوټې نه وتلې یواځې پینځه شپږ ښځې کوټه کې راسره پاتې شوې، دوو نجونو زه لاسه ونیوم دجمشید تر کوټې یې ورسولم دروازه یې راته خلاصه کړه کوټه کې یې کینولم دوی بیرته رانه لاړې،زه کوټه کې

يوائې وم تر اوسه جمشيد کوټې ته نه وو راغلی، لس پنځلس دقيقې وروسته جمشيد هم راغی له ستړي مشي وروسته يي دوه رکعته دشکرانې لمونځ وکړ دعايي وکړه جاينمازيي ټول کړ ميخ ته يي زوړند کړ ماته يي مخ رواړوه غلی شان موسکی شو.

## دیارلسم څپرکی

دجمشید سره مې دژوند پیل ډېره ښه وو زه او جمشید په خپل ژوند ډېر خوشال وو ، خوله ما او جمشید نه مې خسر او خواښې ډېر خوشال ول دګډ ژوند شپې ډېرې ښې مخ په وړاندې رواني وې،زه چې دجمشید کورته راغلم له ډېرو کړاونو نه په امن کې شوم،زه او مور مې د دې ورځې په ارمان وو خو افسوس چې مور مې ارماني ګورته لاړه زما د واده شپې او ورځې یې په نصیب کې نه وې،د وخت په تیریدو سره الله پاک په ما او جمشید باندې یوه لور ولوروله چې نوم یې جمشید مینه کیښوده.لکه څنګه یې چې نوم مینه وه همداسې له مینې ډکه خواږه ګلرنګه ګلورینه وه په نیکه او نیا باندې ډېره ګرانه وه مینه به چې نیکه له غیږې ښکته کړه نیابه په اوږه واړوله چې هغې به ښکته کړه بیا په جمشید پورته، پورته الوزوله،یوه ورځ چې جمشید بازارنه راغی مینې ته یې څو نانزکې دوه کوچني موټرګي راوړل مینه ډېره زیاته ورته خوشاله وه ما جمشید ته هسې په ټوکه وویل:جمشیده مینې ته دموټرې او نانزکې راوړې ماته دهیڅ رانه وړل ولې؟جمشید وخندل په خندا یې وویل تاته مې څه ډالۍ راوړې لږ وروسته به یې درکړم،زما ورته اندیښنه شوه ورته وو مې ویل نه زه اوس غواړم چې وه یې ګورم اوس یې راکړه،جمشید راته هیڅ ونه ویل لومړۍ دمور کوټې ته لاړو خو چې موریې ویده ولیده بیرته خپلې کوټې ته راستون شو،زه هم ورپسې ورغلم ورته وومې ویل جمشیده ژرشه راته وویه ماته دڅه ډالۍ راوړې ده، جمشید وویل راشه چې ډالۍ درکړم، کله چې ورنیژدې شوم لاسونه یې رانه چاپیر

کړل، په دواړو مخونو يي ښکل کړم او... راته يي وويل: بس تاته مې دا ډلۍ راوړي وه، ماورته وويل نه رښتيا وايي؟جمشيد وويل هونو زه بيادرته دروغ وايم، غوسه راغله ورته مې وويل په خداى که د همداسې پريدم، خوا کې مې دګلونو ګلدسته ايښي وه هغه مې رواخيسته جمشيد پوی شو چې ګوزار راباندې کوي نومخکې له مخکې له کوټې نه په منډه ووته ما ګلدسته په خپل ځاى کېښوده ورپسې منډه مې کړه، جمشيد په انګړ کې کله يوې لوري ته منډې وهي کله بل لوري ته هر کله چې ستړی شو بيرته کوټې ته ننوته زه هم ورپسې ورغلم څنګه چې زه کوټې ته ننوتم سمه دجمشيد مور هم دخوب نه رويښه شوه راغله، جمشيدته يي وويل څنګه مو دواړو ماشومانو غوندې منډې شروع کړي دي څه خبره ده؟مخکې له دې چې جمشيد ځواب ورکړي ما ورته وويل مورې جمشيد له بازار نه نانزکې او موټرګي راوړي ما ورته وويل جمشيده ماته به دڅه نه وي راوړي؟ده راته وويل ولې نه راوړي مې دي، ماغوښتنه ترې وکړه چې راښکاره يي کړه ورته اند يښنه مې شوه، ده راته هيڅ ونه ويل کوټې ته لاړو زه چې ورپسې ورغلم بيا مې ورته وويل څه د راوړی دی اند ښنه مې ده ورته، ده راته وويل راشه واخله چې دريي کړم کله چې ورغلم ده...ده رانه...خبره مې همداسې نيمګړي پريښوده وشرميدم، خوابنې مې راته وويل ووايه بيايي څه وکړل څه يي درته راوړي ول، مابيا وويل: مورې آغه...ده...ده رانه...لاس...بيا هم ونه توانيدم، جمشيد راته وويل اوس تکړه شه ورته ووايه آغه، آغه مه وايه، داځل مې خبره بدله کړه نه هيڅ يي راته نه وو راوړي، خوابنې مې وويل ښه چې څه يي درته نه وو راوړي بياد داژبه ولې بنده بنده کيږي؟په بنده، بنده ژبه

مې وویل:ده آغه...آغه ده ویل بس موريې هسې ده رانه...رانه لاس...لاسونه تاوکړل ښکل یې کړم،خوابنې مې وخندل او وه یې ویل ولې لورې ته له دې بله ښه ډالۍ غواړې؟زه وشرمیدم سترګې مې ښکته واچولې،او وه مې ویل مورې ته هم له ده کمه نه یې،ته هم دې ده ملاتړ کوې،خوابنې مې وویل ولې لوري ته په دې خفه شوې زه په دې ویاړم زه خو په دې خوشالیږم چې الله د تل ستاسو ترمنځ همداسې مینه او محبت ولري ،په ژوند چرې هم سره خفه مه شئ،ماوویل نه مورې زه به ولې خفه کیږم، خو جمشید ګرم وو چې لومړۍ یې راته وویل چې ډالۍ مې درته راوړي وروسته چې کوټې ته ورغلم هیڅ یې راته نه وو راوړي،ده خپل زړه یخ کړ اوبس مور.لا په خبرو بوخت وو چې د کور دانګړ دروازه وټکیده جمشید ژر دروازې ته ورغی دروازه یې خلاصه کړه دباندې ورووته دلږ ځنډوروسته خیبر او جمشید یوځای کورته راننوتل،زه په منډه مخې له ورغلم ،له خیبر سره مې سترې مشې وکړه راته یې وویل چې اوس خو مې پوښتنه هم نه کوې بریښنا خورې،ما ورته وویل خیبره وروره یوه شیبه مې هم نه یې هیر کړی،زه به ستا ښیګړه ستاهمکاري هیڅ کله هم هیره نه کړم، زما خبرې لا خلاصې نه وې چې خوابنې مې راته وویل بریښنا لورې ته خو کیناستې ژر پاځه یوه پیاله چای ورته تیار کړه،ما وویل سمه ده مورې تیارې جوش کړې اوبه په نغري ایښې دي په څو دقیقو کې به یې تیار کړم،ژر،ژر مې چای تیار کړجمشید خیبر او خوابنې ته مې پیالې ډکې کړې خیبر چای ډیرپه بیړه بیړه وڅښه پاڅیده،جمشید ورته وویل ولې د چای دومره په بیړه بیړه وڅښه او پاڅیدې؟خیبر وویل جمشیده پلار مې راته وایلي وو چې نن باید لږوختي کورته

راشي،که ورنه شم بیابه راته غوسه وي، خیبر رخصت واخیسته اولاړو ،زمالورمیني او دجمشید خور اوربۍ په انګړ کې سره لوبې کولې،جمشید له موره یو وو دوه خویندې یې وې چې یوه یې واده شوي وه اوبله همدا کوچنۍ اوربۍ وه له جمشید نه وروسته دجمشید نه کوم ورور پیدا شوی وو نه کومه خور موریې شنډه شوي وه له ډیرو دواه ګانو خوړلو او له ډیرو زیارتونو ګرځولو وروسته ورته خدای اوربۍ ورکړه چې اوس دشپږو کالوه له مینې سره یوځای په انګړ کې لوبې کولې، جمشید پاڅیدو داوربۍ او میني په لور ورنیژدې شو ، دهغوی دلوبو ننداره یې کوله زه او خوابنې هم ورنیژدې شو ، میني دواړه لاسون په ځمکه ایښې وو خو اوربۍ یو لاس ځکه اوربۍ به له سندرې سره یوځای ګوته کله په یو لاس کیښوده کله په بل لاس داسندره یې وایله:

اکوبکو سرسیندکو
غوا مې لاړه په ترپکو
یو ملوک وو یو سلطان
غشی ولي په میدان
دامیدان مې داسې ښکلی لکه ستور داسمان
چونږبږو سور سالومی توره کونج

کله چې اوربۍ سندره وویله بیا مینې هغه سندره پیل کړه چې:

پلار مې تللی دی درې ته
رابه شي غرمې ته
ماته به آلو راوړي
آلوبه ورکړم غوا ته

غوا به ما ته پې راکړي
پې به ورکړم سین ته
سین به ماته وروړ راکړي
وه وروره پیدا شه
پاس په غونډۍ ډزې دي
ګډي وډې ورځې دي
کله چې مینې دا سندره وویله دوا ړه په خندا شوې د مینې سندرې سره موږهم وخندل، دوی چې موږ په خندا ولیدو دواړو لوبه بس کړه زموږ په لور یې را منډې کړې،مینې وویل مورې دچا سندره ښکلي وه چا ښایسته سندره وویله ما که اوریې،زه ورتېته شوم دواړه مې ښکل کړې ، وومې ویل لورې ستاسو دواړو سندرې ډیرې ښکلي وې، دواړو ډیرې ښکلې زمزمه کړې،مینې او اوریې لاسونه ډیرخچن کړي وو دواړه مې له لاسه ونیوې مخ لاسونه مې پرې ووینځل جامې، مې پرې بدلې کړې، دکوټې نه دباندې دجمشید پلار ایمل دجمشید مور اوپه خپله جمشید دفراغت په اړه غږیدل چې باید څه ډول مراسم ونیسو،دوی دریو واړو په خپلو کې سلا او مشوره وکړه،جمشید وویل پلاره زه به اوس لاړ شم بازارته خیبر به هم له ځانه سره ونیسم سودا به واخلم، دفراغت په ورځ به بیا ډیر مصروف وم،سودا اخیستلوته به بیا وزګار نه شم،جمشید بازارته په سودا اخیستلو پسې لاړو خوابښې مې کوټې ته راغله راته یې وویل:بریښنا لورې سبا دجمشید دفراغت ورځ ده راځه چې په ګډه سره دکور صفایي وکړو سبا به نورو کارونوته وزګارې وو،ما ورته وویل مورې ته ترې خلاصه یې زه چې یم تا ته کوم ضرورت نه شته،خوابښې مې وویل نه

لوري زه هم وزګاره يم په همدا سې ناستي به څه وکړم، په ګډه سره به کار وکړو، ما او خوابنې مې دکور دټولو برخوصفايي وکړه، لا مودمه جوړه نه وه چې جمشید او خیبردواړه راغلل،له بازارنه يې سودا راوړه له سترې مشې او پوښتنې وروسته زه پاڅیدم چای مې برابرې کړپه ډیر خوند سره مو په ټوکوټکالو چای وڅښه، خیبر وويل جمشیده زه به اوس لاړ شم سبا به انشاالله وختي دګلپوش موټر سره يوځای راځم که خیروي،له همدې ځای نه به بیا يو ځای ښوونځي ته لاړ شو، خیبر مو رحصت کړ، جمشید ډیر خوشال وو چې سبايي د دولسم ټولګي نه دفراغت وروستی ورځ ده، دما خوستن ډوډۍ نه وروسته مو چای ډیرپه خوشالی سره وڅښه،ځکه جمشید دجمشید مورو پلار او همدا شان زه ډیر زیات خوشال وو،سباکه خیر وي جمشید له دولسم ټولګي نه فارغیږي، پلار يي له جمشیدنه پوښتنه وکړه زويه دخپل فراغت په اړه داندیولان او خپل خپلوان خبر کړي دي،جمشید وويل پلاره بې غمه اوسه دومره اندیولان او خپل خپلوان مې خبر کړي دي چې په خدمت به يي سترې شې،پلار يي ورته وويل زويه ډیر ښه دې کړي دي دا زما ارمان وو چې ستا دفراغت په ورځ به زه ډیر لوی مراسم جوړوم،که خدای کول دا ارمان مې پوره شو کله يي چې ساعت ته وکتل ډیر ناوخته وو، وه يي ويل چې نن بايد دنورو ورځو په نسبت وختي ويده شوي وای خو خبرې مو اوږدې شوې، نوربايد چې ويده شو سبابه لکه نیشه یان داسې ځانګیږو هیڅ کاربه نه شو کولای،زه او جمشید ترې پاڅیدو دوی ته مو شپه په خیر وويل موږ ترې خپلې کوټې ته راغلو په بې غمه زړه ويده شوو.

## څوارلسم څپرکی

سهارچې له خوبه راپاڅیدم دلمر وړانګو داوچت اسمان په ختیځو څنډو کې خپلې وړانګې شیندلې افسوس مې وکړ کاش چې نن مې مور ژوندی وای، کاش چې نن یې دجمشید دفراغت په مراسمو کې ګډون کړی وای،زه به څومره خوشاله وای له سترګو مې بې اختیاره او ښکې تویدې لا مې په سترګو کې اوښکې ډنډ ولاړې وې دمور اوپلار په خیالونو ډوبه تللې وم چې جمشید مې په اوږه لاس کیښود ما ټکان وخوړ زر،ژر مې اوښکې وچې کړې په بنده،بنده ژبه مې وویل:جمشیده اغه...اغه...ما...ماویل...خبره مې په خوله کې جمشید وچه کړه ،بس،بس زه پوی شوم دادې څه لیونتوب شروع کړی؟سینې سره یې جوخته ونیوم، زړه مې وار ونه کړپه سلګو مې وویل:که نن مې مور ژوندی وای څومره به خوشاله وای دخوشالی نه به ځمکې ځای نه ورکولای، دمورهغه خبره مې هروخت زوروي چې لورې دا زما ډیر ارمان دی چې ته زما په ژوندانه واده وکړې خدای مه کړه که سبا زه نه وم دې بې درده ورونږوته پاتې شې دغم خوړلو څوک به دنه وي،دجمشید په سترګو کې هم اوښکې ډنډ ولاړې وې ،راته یې وویل: ګوره بریښنا !ستا مور اوپلار ته د الله جنتونه په نصیب کړي،زما مور او اوپلار هم ته دخپلې لورنه کمه نه یې ګڼلې،تراوسه یې که کومه سپکه خبره درته کړې وي راته ویلی شې،ماوویل نه...نه جمشیده دا...دا... داسې کومه خبره نه ...نه، جمشید مې په خوله لاس کیښود بس،بس نوره دژړا بس کړه ژر لاړه شه ماته اوبه تیارې کړه چې نن خو ځان ښه سرویس کړم، دجمشید په دې خبره خندا راغله اوښکې

مې پاکې کړې جامې او اوبه مې ورته تیارې کړې، جمشید چې ولمبیده سپین کالي،تور وسکټ،اوتوربوټان یې په پښو کړل،ما په جمشید کې سترګې ګنډلې وې، کله،کله به جمشید هم مخ رواړوه غلی به موسکی شو، کله یې چې په آینه کې ځان ښه برابر کړ، په خندا یې راته وویل نن به د یوځل بیا په ځان له سره مینه کړم،رښتیاوه چې جمشید نن ډیر ښکلی ښکاریده،په غنم رنګ مخ کې یې سپین غاښونه سپین ځلیدل، غنمرنګه ونه یې په سپین لباس تور وسکټ کې ډیره ښه معلو میده،دجمشید په ځواب کې مې وویل بلکل همداسې ده په دې کې شک نه شته چې نن به مې له سره بیا په ځان مینه کړې،ستا د سپنو غاښونو په لیدو هغه لنډۍ راپه زړه شوې چې:

غاښ د په خوله کې داسې ښکاري

لکه صدف چې په الوت ټومبلی وینه

غوښه د سیخ په سر وریتیږي

نامرده تا پرې سرا سر نیولي یمه

جمشید وخندل دومره صفت مې مه کوه هسې نه چې له نظره مې کړې او...خبره یې همداسې پاتې شوه ځکه چې تلیفون ته یې زنګ راغی ځواب یې ورکړ په بیړه له کوټې نه بهر شو ،صرف دومره یې وویل چې خیبردباندې موټر کې انتظار دی زه لاړم چې راباندې ناوخته دی،په تلو ، تلو کې یې بیرته مخ رواړوه،بریښنا !پلار ته مې ورغږ کړه چې موټر دباندې ولاړ دی مراسم پیل شوي دي ژر،ژر کوه،زه ورغلم دجمشید پلار ته مې وویل هغه هم ډیر په بیړه له کوټې ووت، زه هم دروازې ته ورغلم،جمشید خیبر او پلار یې درې واړه په موټر کې کیناستل دښوونځي په لوري لاړل،زه او مورمې دمیلمنو په خدمت

بوختې وو ،څومره اټکل چې ما او خوابنې مې کړی وو چې دومره ښځې او سړي به راځي خو کیسه له حسابه وتلې وه ځکه چې ډیر زیات راغلي وو ،نن دخوشالۍ یوه بله ورځ وه زما په ژوند کې،زه په خپله واده ته هم دومره نه وم خوشاله لکه نن چې دجمشید فراغت ته خوشاله وم، په کور کې دماشومانو او ښځو شور ډیر زیات وو، تلیفون ته مې زنګ راغی دتلیفون سکرین ته مې چې وکتل دجمشید نمبر وو، په بیړه له شورنه لرې یوې خوا ته شوم،ما ویل که همدلته یې اوکې کړم کیدای شي چې بیا په خبره سره پوی نه شو،تلیفون مې اوکې کړ،الو جمشیده ګرانه سلام، جمشیدوویل وعلیکم سلام ، مورې له ښوونځي نه راوتي یو په لاره کې درروان یو خو لاره بنده ده ،رښتیا له دولسم ټولګي نه په دووهمه درجه بریالی شوم لږ وروسته چې لاره خلاصه شي در رسیږو،ما وویل ښه سمه ده ، جمشیدوویل:مبارکي دولې رانه کړه؟ ما ورته وویل: داډول مبارکي خوند نه کوي کله چې کورته راشې داسې استقبال او داسې مبارکي به درکړم چې ته هم...خبرې یې راپرې کړې، اوهو دومره دځان صفت راته مه کوه زه به دهم...دې خبرې سره د یوې زوروې چاودنې غږ واوریدل شو،دجمشید خبرې نیمګړې پاتې شوې، څو ځلې مې په ورخطایي سره وویل: آلو،آلو،آلو جمشیده خبرې ولې نه کوې،آلو،آلو جمشیده اورې؟خو چې دتلیفون سکرین ته مې وکتل اړیکه پرې شوي وه،ټول کور ماشومانو او دښځو خبرو په سر اخیستی وو،دجمشید نمبر مې په تلیفون کې ډایل کړ دلږ څنډ وروسته یې ځواب راکړ، کومه شمیره چې تاسو ډایله کړې داوس له پاره ورته لاس رسی نه کیږي مهرباني وکړئ وروسته په تماس کې

شئ، په زړه مې لړزه راغله ژر مې دخیبر نمبر ډایل کړ دخیبر نمبر هم بند وو، خو کله مې چې دپلار نمبر ته تلیفون وکړ زنګ تیر شو دځواب په انتظار شوم ، ځواب یې رانه کړ، درې څلور ځلې مې ورته تلیفون وکړ خو یوځل یې هم ځواب رانه کړ، اندیښنه مې نوره هم زیاته شوه، په منډه خوابنې خواته ورغلم چې په لویه دروازه کې نا کلاره ولاړه وه دجمشید دوی دراتګ انتظار یې کوه، په ډک ستوني مې ورته وویل: مورې !آغه... آغه جمشید...جمشید راته اوس تلیفون کړی وو چې مورې درنیژدې یو،لاره بنده ده نور در رسیږو، چې له همدې سره چاودنه وشوه، اوس دخیبر او جمشید دواړو تلیفونو بند دي او پلار مې تلیفوته ځواب نه راکوي،هسې نه خدای مه کړه په دوی،څه نه وي شوي، خوابنې مې له اوښکوډکې سترګې اسمان ته پورته کړې لاسونه یې لپه کړل،یاالله ته مې زوی روغ، جوړ او سلامت بیرته راولې،اې خدایه ته مو دا خوشالي په غم بدله مه کړې،مورمې همغسې لاسونه لپه کړي وو دعا یې کوله، چې دکلي درې څلور ماشومان په منډه را ورسیدل، په نیولي غږیې وویل سایې ډوبه، ډوبه کیده،دجمشید مورې !دجمشید مورې دمکتب را دیخوا سړک باندې دخیبرموټرباندې چاودنه وشوه،دجمشید مور یوا ځې دومره وویل چې یا الله ته خیر راپیښ کړې، ببرسر تورې پښې یې دچاودنې دځای په لورې منډه کړه،زه هم شاته ورپسې شوم کله چې دچاودنې ځای ته ورسیدو هر لورې ته ویر پریاد اوژړا کیده چایوې خوا منډې وهلې،چابل خوا ، پولیسو لاره کلابنده کړې وه څوک یې دچاودنې ځای ته نه ورپریښودل،خو زه او دجمشید مور چاتم نه شو کړی،کله موچې دخیبر په موټر سترګې ولګیدې چې ټول تک تور سوی

دی،دجمشید مور یوه چیغه وکړه یاالله دادي په کوم امتحان کې واچولم،دلمر سترګې وړانګې او داسمان نمجنې لمنې سرې اوښتې وې، هرلورته دلارویو منډې ترړې نارې سورې شوې،ژرکوئ مرسته وکړئ دخدای په خاطر، داسې څوک شته چې له ماسره مرسته وکړي..هر څوک دخپل ځان په ویر اخته وو ، ناڅاپه مې دجمشید په یوې پښې نظر ولګیده په بوټ پړمخې ورپریوتم،یا خدایه ! داڅه وشول داڅه وینم جمشیدنن څومره خوشال وو ولې مې مبارکي ورنه کړه،اې خدایه دازه د څومره بد بخته پیدا کړي یم،ماته مرګ ولې نه راځي،چې هر ځل زه یواځې پاتې کیږم،دجمشید یوه پښه مې پیدا کړې وه دنوربدن په تلاش کې وم چې په خوابنې مې سترګې ولګیدې پړمخې په ځمکه بې هوشه پراته وه،یو امبولانس موټر راغی دجمشید مور نور بې هوشه اوزخمیان یې ټول ورپورته کړل، زه لا همغسې دخیبر جمشید او دجمشید پلار ایمل په لټه کې وم، دسوزیدلي موټر په لورمې قدمونه واخیستل دموټر سره په خواکې ټوټې شوي جسدونه پراته ول چې پولیسو راټول کړي ول ټول یې یوځای اچولي وو ،جسدونوته چې ښه زیره شوم د دریو واړو دبدن برخې پکې موجودې وې، چغې مې کړې اې خدایه داڅه دي؟ داڅه وینم؟زه خوپه دې دنیاکې نور څوک نه لرم،زه دچاته پریښودم؟ له پیغلتوبه نیولي ترنن ورځې پورې مې خوشاله ورځ ونه لیده، اول مې پلار یواځې پریښودم بیامې مور رانه لاړه زه یې دې بې درده وینو څښونکو ولس ته پریښودم او اوس تاسو دریو واړو زه یواځې پریښودم،ولې اخر ولې خدایه ماکومه ګناه کړي ده چې توبه پرې وباسم،زه به اوس څنګه په دې دنیاکې ژوندکوم،خیبره جمشیده او

پلاره پاڅئ مور چاته پریدی؟ مورخونور سر پرست نه لرو ،مینه اوری به اوس څوک ساتي ،پاڅئ ...پاخیږئ د خدای په خاطر پاڅئ که نه...

نور نو په ځان نه یم پوی شوي کله مې چې سترګې پرانیستې پوه شوم چې په روغتون کې یم، لکه وېرېدلي هوسۍ را پورته شوم ببر سر توري پښې له روغتونه راووتم د کور په لور مې منډې وهلې د شانه راپسې ډېرې چیغې وشوې ودرېږه چېرې منډې وهې لږ صبر وکړه خو ما د هیچا خبرې وانه ورېدې، کله چې کور ته ورسېدم هر لور ته چیغې او فریادونه ؤ د انګړ منځ کې درې تابوتونه ایښي ول، یو د جمشید ، یو د جمشید پلار ایمل او بل زما د وراره ؤ هغه هم دلته پولیسو راوړی ؤ ښځې ترې چاپېره وې ټول کور چیغو او ژړا په سر اخیستی ؤ، زه د تابوتونو خواته ورنیږدې شوم د تابوتونو سرونه بند ول له پاسه پرې عکسونه د پېژندګلوی په خاطر ایښودل شوی ؤ، د جمشید مور اوس په هوش راغلې وه کوټه کې سیروم پرې راځوړند ؤ د سیروم د خلاصېدو وروسته د باندې راغله د جمشید په تابوت ورپرېوته په چیغو ، چیغو یې وژړل د جنازو وخت رانیږدې شوی ؤ د خیبر پلار او ځینې نور خپلوان راغلل تابوتونه یې پورته کړل د جنازو په پورته کېدو یو ځل بیا کور چیغو ژړاګانو په سر واخیست چا به ویل یوه شېبه یې پرېدی لا وخت شته یو به یې سی، ولې مو دومره ورته بیړه ده، د خدای په خاطر لږ یې پرېدی خو هیچا یې خبرو ته غوږ کېښنوده د دریو واړو جنازې د مازدیګر په دریو بجو خاورو ته وسپارل شوې

غم به د کله مانه هېر شي

غم مې خوراک شو اند ښنني به دې کومه
غم کې پیدا په غم کې لوی شوم
وړوکې مړه وای چې مې نه لیدای غمونه
غمجنه یاره چبرې لاړې
زه د دادا انګړ کې ګوښې ناسته یمه
غم د زما د تن جامه شوه
د غم جامه خلک په صبر زړوینه
غم د سبق غم د کتاب دی
د غم استاد راته د غم تقریر کوینه

تور سري دخپل ژوند دناخوالو په اورولو کې څو ،څو ځلې په ژړا شوه کیسه به یې بس کړه راته ویل به یې چې نوره کیسه به بیا که خیر وو بله ورځ درته وکړم خو زما او دموږ ډیر ټینګار به دې ته مجبوره کړه چې خپله دژوند کیسه ترپایه موږ ته وکړي داځل چې تور سری تر دې ځایه خپله دژوند کیسه وکړه یو ځل بیا سلګو واخیسته د سر په پړوني یې اوښکې وچې کړې زما زړه هم ډېر ډک کیده دمور له سترګو مې هم اوښکې رواني وې ماډیرپه خواری سره ځان کنټرول کړی ووتور سري څو دقیقې همداسې غلي وه څه یې ونه ویل، زما دصبر کسه هم نوره ډکه وه د پاتې کیسې داوریدو ته لیوال وم ترې وه مې پوښتل له دې وروسته بیا څه وشول پاتې کیسه راته وکړه،تورسري راته وویل نوربه درته څه ووایم ، بس دجمشید خیبر او ایمل له مړیني وروسته مې خوانبي هم مړه شوه اول خو یواځې زه بدبخته وم چې څوک مې نه وو ، ورونو مې پوښتنه نه کوله،اوس مې

یوه لور مینه اوبله دجمشید خور اوږی راته راغاړي دي دسهار په
خیر ټولو پسې له کوره وځم او ماښام ناوخته کورته ځم
که غم له غمه شرمیدلی
په مابه نه راتلی جوړه، جوړه غمونه
تورسري خپله دژوند کیسه همدومره وکړه له ما او مورنه یي رخصت
واخیست دخپلو بې سرنویشته ماشومانو په لور کورته روانه شوه
چې اوس به یي دروازې ته په وږي نس وږي سترګې نیولي وي
پای